# د ژبښوونې آرونه

(د ژبې د تدریس اصول)

Ketabton.com

څېړندوی عبدالغفور لېوال

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# لیک لړ ( فهرست )

سریزه

## لومړی څپرکی

د ژبښوونې ارزښت
د لوستلو د زده کړې ارزښت
د ژبښوونې ساحه
موږ ولې غواړو چې ماشومان مو لیک –لوست زده کړي
د یوه ښه لوستونکي ځانګړنې
د ماشوم ذهني وده
هغه پښتونه چې لوست ته د ماشوم چمتوالی څرګندوي
د لومړنیو زده کړو پروګرام ته یو عمومي نظر
الف –قرائت
د لومړنیو زده کړو پروګرام د قرائت په اړه وایي
له افادې سره د زده کوونکو عادي کول
لیکنۍ ( تحریري ) افاده

## دوهم څپرکی

د زده کونکو ترمنځ فردي توپیرونه او  په دغه برخه کې د ښوونې او روزنې د ارونو دریځ
 اوربدل
د اوربدلو په اړه خو وړاندیزونه
دغوږ نیولو لاملونه
د یوه ښه اوربدونکي ځانګړنې
په بېلا بېلو ټولګیو کې د اوربدلو د مهارت د ښه کولو لپاره څو وړاندیزونه
له لومړنیو ټولګیو څخه پورته ټولګیو کې د اوربدلو د مهارت د تدریس په اړه ځینې وړاندیزونه

## دریېم څپرکی

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ژبښوونه
الف.ژبښوونه په لومړنیو ټولګیو کې
ب.دلوړو ټولګیو ژبښوونه

## څلورم څپرکی

لیکل
لومړی ټولګی
په لیکلو کې ځینې د پام وړ ځانګړنې
په لومړیو او دوهمو ټولګیو کې د لیکلو د مهارت وده او د هغې لارې چارې
لنډیز

## پېنځم څپرکی

په لومړنیو ټولګیو کې خبرې او د افادې قوه
افاده او خبرې کول په لوړو ټولګیو کې
په لوړو ټولګیو کې د لیکنۍ افادې ښه والی
وینا ( تقریري افاده )
اخځلیکونه

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# یادښت

دژبښوونې ارونه ، زما دلېسانس ددورې مونوګراف دی ، چې پر ۱۳۷۹ لمریز کال مې لیکلی و. لارښود استاد مې ښاغلی پوهنمل غلام نبي فراهي و. هغه مهال په دې اړه دکابل پوهنتون دژبو او ادب پوهنځي لپاره اړتیا وه، چې دژبښوونې دارونو دلوست په اړه دزدکړې ددورې یو پایلیک ولیکل شي ، چې هغه مهال داچاره ماته راوسپارل شوه.

له هغې ورځې څخه نږدې څوارلس کاله تیرېږي ، داکتاب زما دځانګړې کتابتون په یوه کونج کې ترخاورو او دوړو لاندې پروت و ، تر دې چې زمونږ تکړه فرهنګي ملګري ښاغلي صادق ژړک او دهغه دغورځنګ ملګرو ورڅخه دورې وشنډلې ، چې دادی چاپ او ستاسو په لاسونو کې دی. ددې کتاب په اړه لاندېنۍ یادونې ضروري دي ، چې هیله ده ترلوستلو مخکې یې په پام کې ولرئ:

کتاب په هماغه لیکدود خپرېږي ، چې هغه وخت ما پرې لیکل کول ، زه باورلرم چې په دې څوارلسو کلونو کې به زما په لیکدود کې بدلون راغلی وي ، ځکه دهرې ژبې لیکدود د لاښه پوهاوي ، لنډون ، او اسانتیا لپاره بدلون مني او ورسره دلیکوالو دلیکلو په سبکونو کې هم بدلون راځي.

په کتاب کې څوځایه د هغه مهال دود ( معمول ) تدریسي نصاب څرنګوالي ته اشارې شوې دي ، چې په هغو کلونو کې دهېواد په ښوونځیو کې تدریسېده ، ځکه خو دغه ښېلګې پر اوسمهالي نصاب دتطبیق وړ نه دي ، خو دښېلګه یې شننې لپاره لاهم کاریدلای شي.

دا کتاب دژبښوونې په برخه کې یوه ابتدايي لارښوونه وګڼئ ، که ځوان څېړونکي پر دې تاداو دنورو ډېرو ایښودواو دشوي کار دنیمګړتیاوو دسمون په نیت دا سکالو لاپسې بډایه کړي ، باور لرم چې دپوهنې او زده کړې په برخه کې به یې یوه ملي هڅه کړې وي.

په پای کې له درنو :صادق ژړک او دغورځنګ له نورو ملګرو څخه مننه کوم ، چې ددې رسالې چاپ ته یې اوږه ورکړه، له ګران همکار څېړندوی رفیع الله نیازي څخه مننه چې ددې کتاب په بیا کتنه کې یې خپله ملګرتیا وپالـــه.

هیله ده ، چې دغه کوچنۍ هڅه په ډېرڅه وشمارئ

څېړندوی عبدالغفور لېوال
۱۳۹۲ - سلواغه - ۱۵

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## دلارښود استاد نظر

دغه لیکل شوی مونو ګراف د پښتو ښانګې د تکړه او با استعداد ځوان کوونکي ښاغلي عبدالغفور لېوال هڅه او زیار دی. نوموړي په خپله دې رساله کې ډېر په زړه پورې او نوي مسایل څېړلي دي ، چې کار یې د قدر وړ دی.
د پښتو ښانګې په بحثونو کې یو هم د ژبې د تدریس اصول دي ، چې په تېره بیا هغو محصلانو ته یې زده کړه ډېره مهمه ده چې د ښوونکیو په توګه کار ترسره کوي.
هره پوهنه د ورزده کولو خپل اصول او تدریسي ځانګړنې لري. په لوی سر کې د ساینسي او تجربي علومو تدریس له ټولنیزو او بشري علومو سره متفاوت دي. بیا په بشري علومو کې د ژبې تدریس خپلې ځانګړنې او میتودونه لري ، چې ښاغلي لېوال په خپله دې رساله کې د هغو پر څرنګوالي څېړنه کړې ده.
زه باور لرم ، چې په راتلونکي کې به دغه رساله د ژبې د تدریس په برخه کې یوه د پام وړ سرچینه وي.
زه د دې تر څنګه چې دغه رساله د لېسانس دورې د بریالۍ پای ته رسوونې لپاره کافي او وړ بولم ، ټینګار کوم ، چې دغه په زړه پورې رساله چاپ او خپره شي. د پېډاګوژیکو علومو مینه وال به د دې رسالې له چاپ او خپراوي څخه بشپړه ګټه پورته کړي.
زه د دې رسالې د لیکلو پر مهال د ښاغلي لېوال هراړخیزې هڅې ستایم او په راتلونکي کې یې د لا ډېرو بریالیتوبونو غوښتونکی یم.

په درناوي
پوهنمل غلام نبي فراهي

۱۳۷۹ـ۴ـ۲۴ هـ .ش
کابل پوهنتون

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د ټولنيز پرمختګ بنسټ فرهنګ او د فرهنګ بنسټ ژبه ده.

**سريزه:**

ژبښوونه د اوسمهالي پوهني له هغو بنسټيزو توکيو څخه ده، چې دهغې د ارونو په اړه له اوږده مهاله را په دېخوا د نويو زده کړو او تجربو پر بنسټ نوي اندونه او نظريات رامنځته کيږي، دا سې ګروهه شته چې د بشر لومړنۍ ځانګړنه ژبه ده او له فلسفي پلوه د نړۍ ليد ( شناخت، معرفت) له غوره او مهمو لاملونو څخه يوه هم ژبه ده. ژبه په فطري او طبيعي بڼه له کورنۍ څخه زده کيږي، خو کله چې د هغې د زده کړې په اړه د ښوونې سکالو را وړاندې شي، نو لرغونتيايي د ليک تر رامنځته کېدو هم پخوا زمانې ته رسيږي. په مصري، چيني، هندي اريايي، رومي او يوناني مدنيتونو کې ژبښوونه د پوهنو له لومړنيو ښوونو څخه ده، په زړه اوستا کې د سنسکريټ ژبې د زده کړې په اړه يادونه شوې ده او د " پاڼيني " څلورزره کلن پښوييز اثر خو داجوتوي چې په زړه اريانا کې ژبښوونې او ژبپوهنې ته څومره پام کېده.
د يونان په طلايي مدنيت کې د سوکرات له لاربښوونو نيولې بيا د اپلاتون تر اکاډمۍ او د ارستو تر کتابونو پورې د ژبښوونې په اړه بېلا بېل بحثونه ليدلای شو، چې د ګڼو نورو پوهنو په شان يې لومړنۍ اکاډميک بنسټ ځای هم همدا مدنيت ګڼلای شو. د ژبې تدريس ( ژبښوونې) له هغه مهاله تر ننه پورې بېلا بېل پړاوونه وهلي، چې په شلمه پيړۍ کې د يوې جلا پوهنې په توګه د نوې اروا پوهنې رامنځته کېدلو هم ورسره مرسته وکړه، د ښوونې او روزنې اروا پوهنه هغه مهال په جدي بڼه را وړاندې شوه چې بشريت د دغو دواړو ټولنيزو ښکارندو ( پديدو) جدي اهميت ته متوجه شو او ټيک همدا مهال و، چې د ژبښوونې په اړه هم نوې تجربې او نوي معلومات مطرح شول.
دغه مسله هغه مهال نوره هم د پام وړ شوه، چې د ښوونې او روزنې په بهير کې د لومړي شرط او اړ په توګه د مورنۍ ژبې سمه زده کړه د يوې اړتيا په توګه ومنل شوه او دا يې وپتېيله چې تر هر څه مخکې ښايي ژبه زده کړو. په دې اړه زما ځانګړې مينه او خوره وره مطالعه له پخوا څخه موجوده وه او د ځينو مسايلو په اړه مې څه نا څه يادښتونه هم ساتلي وو. همدا چې د پوهنځي په څلورم کال کې د مونو ګراف ليکلو اړتيا رامنځته شوه، نو ورسره څو نورو لاملونو دې ته وهڅولم چې په دغه برخه کې دې دا کوچنۍ رساله وليکم.
لومړۍ دا چې په څلورم ټولګی کې مو زړه په دې اړه ( د ژبې د تدريس اصول) په نامه يو مضمون لوست او ددغه لوست درانه استاد ښاغلي پوهنيار غلام نبي فراهي راته په دې اړه د يادښتونو د تنظيم او راټولولو هدايت راکړ، له بلې خوا زما په ځانګړې کوچنې کتابتون کې ځينې دا سې کتابونه، مجلې او خورې ورې مقالې لاسته راغلې، چې له هغو څخه مې د دې رسالې د ليکلو پرمهال ګټه اخيستلای شوه، همدا راز له يو

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

لړ پوښتنو ګروپونو وروسته راته ښکاره شوه، چې په دې اړه تر اوسه کوم جلا مونو ګراف یا کتاب په پښتو ژبه نه دی کښل شوی ( او که وي هم نو ماته به نه وي ښکاره ) ځکه خو په دې اړه د څه لیکلو هڅه راته ډېره بې ګټې ونه برېښېده، نو هماغه و، چې پر لیکلو مې پېل وکړ او وخت ناوخت مې له خپل لارښود استاد سره په دې اړه مشورې وکړې، چې درنو لارښوونو یې ددغې رسالې په بشپړتیا کې راسره ډېره مرسته وکړه . دا لیکنه پینځه څپرکي او څلور دېرش لوی او واړه سرلیکونه لري. په لومړي څپرکي کې د ژبښوونې ارزښت او ځینې هغه میتودونه څېړل شوي، چې له ماشوم سره د ژبې د زده کړې په برخه کې مرسته کولای شي. دوهم څپرکی دا څرګندوي چې زده کوونکي څه ډول کولای شي د ژبښوونې له چارې څخه سمه ګټه واخلي. په درېیم څپرکی کې په بېلا بېلو بڼو د ژبښوونې چارې په ټېټو او لوړو ټولګیو کې څېړل شوي دي . څلورم څپرکی د لیکلو په اړه څرګندونې لري او په پینځم څپرکي کې د ژبنۍ افادې یا ( خبرو اترو ) د ښو تر سره کولو په اړه یادونې شوې دي.

په دې لیکنه کې له هغو سرچینو څخه پرته چې د رسالې په پای کې ښوول شوي، د لیکوال ورځنۍ تجربې او لیدنې، له استادانو څخه پوښتنې او بحث او د دوستانو مشورې هم ګټورې وې، چې ښایي هېرې نه شي. په پای کې غواړم له خپلو ټولو درنو استادانو څخه، چې په څلور کلنه زده کړه کې یې زه نازولی یم مننه وکړم. ښاغلی استاد صابر خویشکی او ښاغلی استاد جمعه ګل لورین، خود ډېرې مننې وړ ځکه دي، چې د ژبې په اړه مې ډېر څه له دوی څخه زده کړي دي. زما درونددمشر ښاغلی استاد محمد بشیر دودیال هم د مننې وړ دی، چې د رسالې په تخنیکي چارو او مانیزو لارښوونو کې یې ډېره مرسته راسره کړې ده، خپل لارښود استاد محترم پوهنیار غلام نبي فراهي یو ځل بیا په مننه لمانځم، چې د زده کړې او مونوګراف لیکنې په ټوله دوره کې یې په خورا صمیمي او مینه ناکه ژبه راته لارښوونې کړې دي.

له ټولو نه په مننه او لمانځنه

عبدالغفورلېوال

کابل پوهنتون ۱۵/ ۴/ ۱۳۷۹

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د ژبښوونې ارزښت

د کوچنیانو او لویانو لپاره د ژبښوونې ښوونیز نصاب او د وګړو په رویه اواکر، په تېره بیا په پرمختیایي هېوادو کې ډېره د پام وړ خبره ده، د یوه ستر ښوونکي په اند د ژبې ارزښت له هغو ټولو سامان الاتو څخه زښت زیات دی، چې په دې دوه زرو کلونو کې رامنځته شوي دي، ځکه چې ژبه د وګړو د ورځني ژوند یو ضروري توکی دی او ژبه د وګړو ترمنځ په ورځني ژوند کې د افکارو د تبادلې او تنظیم وسیله ده.
مخکې له دې چې لوستل رامنځته شي، ښکاره ده چې باید لومړی لیکل کېدونکي څیزونه د بشر په لاس کې وي او مخکې له دې چې لیکنې را ښکاره شوې وي باید چې کلمات او یو ځانګړی اند له وګړي ( فرد ) سره موجود اوسي، نو له همدې ځایه لیدل کیږي چې ژبه کومه نوې اختراع او موندنه نه ده، بلکې دا د بشر یوه ډېره پخوانۍ وسیله او لرغونی فعالیت دی. ان دا چې ژوي هم د ځینو نښو په څرګندولو او د ځینو ټاکلو غږونو په اوچتولو خپلې اړتیاوې ښکاره او جوتوي، د بېلګې په ډول یو څاروی دا جوتوي چې وږی دی، نوغږ د وسیلې په ډول کاروي، خو په دې نه توانیږي چې د خپلې خوښې خواړه وغواړي، خو دا یوازې بشر دی چې له ژبې څخه د افکارو د تبادلې د یوې وسیلې په ډول کار اخلي او د هغې په واسطه خپل افکار له خپلو شاوخوا نورو وګړو سره شریکوي.
نننی تمدن او پرمختیاوې له مخابرې او د افکارو د تبادلې له وسایلو پرته هېڅ ممکن نه دي، یعنې که ژبې او د هغې په اړوند نورو وسایلو، لکه: راډیو، جرایدو، تیلیفون او نورو وجود نه درلوداى، نو نننې تمدن به وجود نه درلود. له دې کبله چې ژبني فعالیتونه د هر ښوونځی د زده کړې نصاب جوړوي، نو ځکه کوچینانو ته پکار دي، چې تر هر څه دمخه په خپله ژبه کې پوره وړتیا او مهارت ترلاسه کړي، په دې ډول به دوی د خپل ګروپ فعال غړي وشمېرل شي، یعنې پکار ده چې د کوچنیانو لپاره ژبه که د ویلو په بڼه وي یا د لوستلو په بڼه، باید دا ورته د ښوونځي او د کور د فعالیتونو مهم جز وګرځول شي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ژبه د کار د ترسره کولو ( خبرو کولو ، لوستلو ، اورېدلو ، ليکلو او تفکر ) لپاره کارول کېږي. ژبه د هغو مهاروتونو له جملې څخه ده چې بايد زده کړای شي.

د ټولنې هر نورمال وګړی په يوه نه يوه ژبه خبرې کوي، څوک په پښتو ، څوک دري، څوک انګليسي او فرانسوي او همداسې په نورو ژبو ګړيږي، يعنې ژبه په ټوله نړۍ کې پکار ده، خوعينې ژبه په ټوله نړۍ کې دود نه ده، ان دا چې زموږ په هېواد کې دوه رسمي ژبې شته چې پر هغو سربېره نورې ژبې، لکه: بلوچي، ترکمني، پشه يي او نورې هم لرو. دغه ژبې هم د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې ويوونکي لري. همدا راز په يوه ژبه کې نظر بېلا بېلو سيمو ته توپيرونه شته، د بېلګې په ډول ايراني فارسي، د کابل له فارسي سره ډېر توپير لري. کوچنيان هم د خپلو کورنيو د چاپېريال پرتله د ژبې د ښه کارولو ، د لغاتو پېژندنه، د کتابونو او مجلو پېژندنه او د ژبې د زده کړې د نورو وسايلو په نظر کې نيولو سره چې د ژبې په زده کړه کې ارزښت لري، له يو بل سره توپير لري. ژبه خپله ريښه له علايمو او سمبولونو څخه را پيلوي يا په بل عبارت سمبولونه او علايم د ژبې بنسټ جوړوي، چې دغه سمبولونه او علايم د ټولنې له خوا منل شوي او د هغو په مانا موافقه شوې ده، د بېلګې په ډول کله چې موږ وايو ( پسه ) نو زموږ موخه له يو ډول کورنې څاروې څخه ده چې ورۍ لري، بې ازاره دی، موږ ته ګټور دی او موږ ټول يې په همدې نوم ( پسه ) يادوو. خو که د بېلګې په ډول موږ موافقه کړې وای، چې فرضاً همدا څاروی د ( څوکۍ ) په نوم وپېژنو ، نو څاروی به هماغه و ، خو نوم به يې دا بل و.

د داسې ويونو او لغاتو ښوونه، لکه: پسه او څوکۍ کوچنيانو ته ډېره اسانه ده، ځکه چې دوی د داسې لغاتو ( ويېونو ) مانا او مقصد ليدای شي، خو د ځينو لغاتو ( ويېونو ) مانا او د هغو ښوونه کوچنيانو ته ستونزمنه ده، لکه: ( ديموکراسي ) ځکه د ديموکراسۍ په شان کلمات او لغتونه کوچنيانو ته مجمل وي ، دوی يې نه ليدای شي او نه يې مقصد پېژني ، دا کلمات صرف د مفاهيمو لپاره کارول کيږي، دا د داسې شيانو نومونه دي، چې موږ يې وينو يا يې ترسره کوو.

ژبه يوه ټولنيزه وسيله ده، خو که مو په کوم غره کې په يوازيتوب ژوند کولای، نو هېڅکله به خبرو ته اړ نه واست، ځکه څوک به نه وو چې ستاسو خبرو ته يې غوږ نيولای وای. ژبه د افکارو د تبادلې لپاره ده، ژبه د حقايقو د بيان لپاره ده او بلاخره ژبه د ارثي ثقافت د لېږدولو لپاره وسيله ده. هغه وخت چې وګړو له ليک لوست سره بلدتيا نه لرله، مشرانو او سپين ږيرو به د پخوا زمانو نکلونه ماشومانو ته بيانول او هغوی به هغه زده کول او نورو نسلونو يا بل نوي کول ته به يې نقلول، هغه وخت تاريخ سينه په سينه د وختونو په کړلېچونو کې لېږدول کېده، خو کله چې ليک رامنځته شو ، په تېره بيا کله چې د طباعت فن رواج شو ، تاريخ وليکل شو او د زمان په حافظه کې ثبت شو ، همدارنګه رياضي، ساينس او ان دا چې ځينو اوامرو کې اسانتياوې رامنځته شوې.

## د لوستلو د زده کړې ارزښت:

لوستل هغه کونجي ده، چې د کتابونو ور زموږ پر مخ را پرانيزي، يا په بله وينا: لوست هغه وسيله ده چې دهغې په واسطه کوچنيان ښوونه او رزونه زده کوي. په حقيقت کې لوستل د ښوونې او روزنې بنسټ جوړوي، که يو څوک لوست ونشي ويلای، نو له تاريخ، جغرافيې او نورو ساينسي مضامينو څخه هېڅ

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

نشي زده کولای او نه هم پرې پوهېدای شي. څوک چې د لوستلو په مهارت کې وروسته پاته وي، هغه له ښوونې او روزنې څخه پوره ګټه نشي پورته کولای.

د افغانستان د لومړنیو زده کړو پروګرام چې د لومړنیو ښوونځیو په بېلا بېلو ټولګیو کې د بېلا بېلو مضامینو تدریس او درسي ساعتونه ټاکي، په دري ژبو سیمو کې په یوه اونۍ کې ۱۲ ساعته دري ژبه او پښتو ژبو سیمو کې ۱۲ ساعته پښتو لوست تدریسوي، دا د ریاضي د لوست پرتله درې ځلې زیات وخت دی.* د ښوونځي لومړی کال د سواد د ودې لپاره دی. کله چې موږ لوستي (باسواد) وایو، نو زموږ مقصد له هغه سویه مهارت څخه دی، چې ټول باید هغه اندازه لیک ولوستلای شي، ځینې وخت د یو لنډ ساده پرګراف د لوستلو د قدرت په توګه تعریفیږي، خو په هر ډول باید پوه شو چې سواد صرف د څو کلمو له تلفظ کولو څخه لوړ دی یعنې زموږ موخه له سواد څخه داده، چې لوستونکی دې د لیک پر مقصد، مانا او مفهوم باندې پوه شي.

په پرمختیایي هېوادونو کې د وګړو د باسواده کېدو لپاره ورځ په ورځ اړتیا زیاتیږي. لویان له دې مهارت څخه (سواد څخه) د ترافیکي لیکنو، علاماتو، لوحو، اخبارونو او نورو لپاره کار اخلي، هغوی دې ته اړ دي، چې د روغتیا، دماشوم روزنې، د کرنې د ښه کولو، د خوراک د غوره کولو او نورو په اړه له همدې لارې معلومات او پوهه ترلاسه کړي. هغوی باید د خپلو دوستانو او مسافرو خپلوانو لیکونه ولولي او دهغوی ځواب بېرته ورولیږي او په پای کې دوی اړ دي، چې لیکل شوې ډېره ساده لارښوونه هم ولولي.

د یونسکو یو راپور څرګندوي، چې د دنیا له نیمایي زیات وګړي نالوستي دي او هم د نړۍ له نیمایي زیات وګړي له لوږې او فقر سره مخامخ دي. نالوستي د تولیداتو د کمي، د خوراکي توکیو د لږوالي او د وژونکو ناروغیو عامل ده.

ستاسو دنده د ښوونکي په توګه ډېره درنه ده. تاسو له ډېر لوی خنډ او لویې مجادلې سره چې په افغانستان کې مخامخ یاست، هغه له بېسوادۍ سره مجادله ده.

د یونسکو راپور زیاتوي چې په نړۍ کې له هرو پینځو ماشومانو څخه نیمایي یې ښوونځي ته نه ځي او څلور نور یې له لومړنیو زده کړو څخه لوړې زدې کړې نشي کولای او له لسو ماشومانو څخه یوازې یو ماشوم لوړو زده کړو ته رسیږي. داده هغه جګړه چې تاسو افغاني ښوونکي باید په هغې کې بریالي شئ، چې څرنګه له هرو لسو ماشومانو څخه هغه پېنځه نور یې باید ښوونځي ته راوبولئ او څرنګه کولای شئ هغه پینځه نور چې له لومړنیو زده کړو څخه پورته زده کړې نشي کولای په ډېره ښه توګه ښوونه او روزنه ورکړئ، چې خپل ځان او خپلې ټولنې ته ګټور شي او په پای کې څرنګه کولای شئ هغوی وهڅوئ چې لوړو زده کړو ته دوام ورکړي. افغانستان تحصیل کړي لارښود ته اړتیا لري. افغانستان تکړه ښوونکو ته اړتیا لري افغانستان روزل شویو ماهرو کارګرانو ته ضرورت لري او بالاخره افغانستان دې ته اړتیا لري چې خلکو یې له کلیوالي زده کړو څخه لوړې زده کړې ترسره کړې وي.

---

* یادونه: دا کتاب په کال ۱۳۷۹ لمریز کې لیکل شوی دی، ځکه خو د تعلیمي نصاب بېلګې دهماغې زمانې له دود نصاب څخه اخیستل شوي دي او په هیڅ وجهه پر او سمهالي نصاب د تطبیق وړ نه دي.
لیکوال

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

په افغانستان کې د لیک لوست ښوونه د ځینو نورو هېوادونو ، لکه د چین یا نورو پرتله اسانه ده ، ځکه چې د چینايي پرتله پښتو او دري ژبې الفبا لرونکې دي او د الفبايي ژبو لیک لوست د هغو ژبو د زده کړو پرتله ډېرې اسانه وي،کومې چې په شکلونو او انځورونو کې کلمات افاده کوي نه دا چې حروف. په چین کې مخکې له دې چې یو کوچنی لیک زده کړي، باید لږ تر لږه زر داسې شکلونه او انځورونه وپېژني،چې علایم او نښې بلل کیږي، ځکه چې د چینايي رسم الخط هره نښه او انځور یوه کلمه څرګندوي. یعنې هره نښه د یوه حرف ښوونکې نه ده، نو ځکه د دا ډول زرو انځورونو پېژندنه څه اسان کار نه دی.
کله چې یو کوچنی د لومړي ځل لپاره کتاب پرانیزي، داسې څه ویني، چې ده ته لکه د چینايي رسم الخط په شان عجیب انځورونه ښکاره کیږي، خو بیا هم دی کولای شي ځینې شکلونه او انځورونه ذهن ته وسپاري او هغه یاد کړي. ډېرې لومړنۍ کلمې په همدې بڼه ښوول کیږي، خو دا هم باید وویل شي تر هغې چې ماشوم ددغو کلماتو حروف د هغوی له غږونو سره ونه پېژني، هغه چینايي ته ورته دی چې یوازې پر کلماتو ، نښو او انځورونو او خپله حافظه باندې استناد کوي.

## د ژبښوونې ساحه:

### ۱ـ کومه ژبه ښوول کیږي؟

نن سبا په افغانستان کې له لومړي ټولګي څخه تر درېیم ټولګې پورې مورنۍ ژبه تدریسیږي. په پښتو ژبو سیمو کې لومړی کوچنیان پښتو ژبه لوستل زده کوي او پارسي ژبه له څلورم ټولګي څخه وروسته پیل کوي، همداسې په پارسي ژبو سیمو کې پښتو له څلورم ټولګي څخه پیلیږي.*

### ۲ـ هغه ساحې چې د مورنۍ ژبې په زده کړه کې راځي

د ژبښوونې ساحې په لاندې ډول دي:
ښه مکالمه ( ښې خبرې کول) ، د خبرو پر وخت د مفهوم په مانا پوهېدل، د مفهوم په پوهېدو سره لوستل او هومره لیکل، چې د افکارو د راکړې ورکړې لپاره بس وي. همدا څلور برخې ( ویل، اورېدل، لوستل او لیکل) د ژبښوونې په نوم یادیږي.

### ۳ـ د مورنۍ ژبې د ښودلو موخې

د پوهنې وزارت د تدریساتو پروګرام لاندینۍ موخې او اهداف په نظر کې لري:
- د زده کوونکو روږدي کول له دې سره، هغه افکار او احساسات، چې په لیکنه یا په ژبه کې دوی ته چمتو کیږي، دوی وکولای شي هغه په ښه ډول افاده کړای شي. ( اماده ۲م م).
- زده کوونکو ته ددې وس ورکول چې خپله پوهه د لیک او قلم په واسطه په ښه ډول وپوهولای شي.(۲ماده، ۲م).

---

* بیا هم د کتاب دلیکلو دزمانې ( ۱۳۷۹لمریز) دودنصاب ته اشاره ده.
لیکوال

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

- زده کوونکو ته مورنۍ ژبه ګرانول او له هغې سره مینه پیدا کول، ددې لپاره چې په هغې سره کتاب، مجله او نور ولوستلای شي او د انسان په وجود کې له لوستلو او پوهېدلو سره د یو ډول مینې او علاقې رامنځته کول (۳ماده، ۲م).
- د زده کوونکو د لغاتو زیاتوالی، دمورنۍ ژبې دکلماتو په مانا پوهول، دهغو لیکل او زده کول، دهغو لوستل او په دې ډول زده کوونکو ته د لیکلو وریادول (۴ماده، ۲م).
لکه څرنګه چې له پورته اهدافو څخه ښکاري، لوستل، لیکل، اورېدل او ویل یو له بل څخه بېل نه دي، بلکې دا د ژبښوونې په برخه کې ټول یو شان برخه لري. املا، انشأ او خبرې کول ټول د ژبښوونې اجزأ دي او بیا د قرائت په درسي فعالیت کې لازم مواد دي. د ژبښوونې د پروګرام مرکزي او اصلي هدف د افادې درستوالی او سمه افاده کول دي، ښوونکي باید له زده کوونکو سره مرسته وکړي، چې واضح او منطقي فکر وکړي او خپل مطالب په ښه ډول هم په لیکلي ډول او هم د وینا په ډول په وضاحت بیان کړای شي.
مور ولې غواړو چې ماشومان مو لیک لوست زده کړي؟
لکه مخکې چې وویل شول لوستل داسې کونجي ده چې د کتابونو ور د انسان پر مخ پرانیزي، ان دا چې ځینې خلک د تفنن او تفریح لپاره کتاب لولي، لکه: کیسې، ادبي مضامین، اشعار او نور اوله هغو خوند اخلي. انسان د زده کړې لپاره ښوونځي ته ځي، ځکه چې معلومات یې زیات شي، دوی ته شخصي قناعت حاصل شي او د لټولو او کنجکاوۍ حس یې ارام شي. هغوی تاریخ، جغرافیه او نور علوم لولي، چې یو څه زده کړي، بیا د جرایدو، کتابونو او مجلو په لوستلو پیل کوي او ځان د خپل چاپېریال او نړۍ له پېښو خبروي. همدارنګه د ځینو نورو معلوماتو دموندلو لپاره کتابونو ته مراجعه کوي، د بېلګې په ډول دوی دا زده کوي چې څرنګه یو خوراک پوخ شي؟ نو ددې پوښتنې لپاره د اشپزۍ کتاب ګوري یا که غواړي چې دا زده کړي چې د یو ماشین پرزې څرنګه تړل کیږي، نو د ماشین ښودنې یو کتاب ته مراجعه کوي او داسې نور. ځینې وخت په لوړ غږ د یو کتاب لوستلو ته اړ کیږو، چې اورېدونکي هم له هغه څخه ګټه واخلي چې په کتاب کې دي، ممکن دا یوه کیسه وي، یا یو اخبار وي، یا د کوم شي په اړه معلومات وي.

### ۵.د یوه ښه لوستونکي ځانګړنې:

لوستونکی چې څه لولي، باید په هغو پوه شي، یعنې یوازې تلفظ کول د کلمو مفهوم نه واضح کوي، د کلمو مانا باید لوستونکي ته واضحه وي. هغه باید د هغو ښنبو له مانا سره بلد وي، چې په لیکنه کې راغلي دي، دی باید هغه ټول پرګرافونه، جملې، کلمات او د مطالبو لنډیز چې د کتاب په پای کې راغلي ولوستلای شي. هغه باید د نقشو، ګرافونو او نورو انځورونو په اړه چې د لیکل شویو موادو په اړه دي پوره پوهه ولري، همدارنګه دی باید دهغو نورو ټولو وسایلو په اړه هم پوهه ولري، چې په لوستلو کې پکاریږي، د بېلګې په ډول د قاموسي ( سیندګي ) په اړه باید پوه شي او د نوي لغات مانا په هغه کې وموندلای شي. هغه باید د کتاب بېلا بېلې برخې چې ځانګړي معلومات وړاندې کوي وپېژندلای شي، لکه :جدولونه، مفردات، عنوانونه ،څپرکي، فهرست او نور.
همدارنګه لوستونکی باید د خپل هدف له مخې د لوستلو بېلا بېل تکنیکونه په کار واچولی شي، لکه یوه ساده کیسه په چټکۍ ولولي، خو د علمي مسایلو لرونکې لیکنې به په غور لولي او هغه خبرې چې باید په یاد وساتل شي هغه دې یادښت کړي. باید په دې هم پوه شي هغه څه چې لولي یې څرنګه یې

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ارزيابي کړي. ايا داسې کومه لاره شته چې د لوستل شويو موادو د صحت او ثقه والي ثبوت وکړي او ايا دغه معلومات چې ده ولوستل نوي دي او که زاړه، ايا دا معلومات حقيقي او مهم موضوعات بيانوي که عادي، ايا دا مواد ښه ليکل شوي او که د ليک له مخې کمزوري دي ؟

بل دا چې لوستونکی بايد لوستلو ته ميل او رغبت ولري.

زموږ دښوونکو دنده داده چې پورته ټولې ځانګړنې په زده کوونکو کې وروزي، وده ورته ورکړي او له هغوی سره مرسته وکړي، چې هغوی ښه لوستونکي شي.

## ج: د لوستلو اړيکې له نورو موضوعاتو او مضامينو سره :

د پوهنې وزارت د لومړنيو تدريساتو پروګرام دا څرګندوي، چې د اورېدو، خبرو کولو، لوستلو او ليکلو ټول فعاليتونه دمورنۍ ژبې تر عنوان لاندې راځي او په لومړنيو ښوونځيو کې دا بايد د ځانګړو مضامينو او بېل لوست په ډول ونه پېژندل شي، يعنې دغه فعاليتونه ټول دعينې مضمون اجزا دي.

املأ، انشأ او له يادول، ټول د زده کړې وسايل دي، چې ماشومان دمورنۍ ژبې په زده کولو کې په تقريرې او ليکنۍ ښه روزي، کله چې ښوونکي نور مضامين، لکه : تاريخ، جغرافيه، ساينس او نور تدريس او تشريح کوي، نو بايد د ژبې قواعد مراعات کړي.

ښوونکي بايد هڅه وکړي ښې خبرې وکړي او کلمات واضح ادا کړي. د کوچنيانو ځوابونه که تحريري وي او که تقريري، د ژبې له پلوه دې هم اصلاح کړي، سره له دې که اړوند مضمون ژبه نه وي.

دوکتور دورلست په خپل کتاب کې چې ( د ژبښوونې ارونه ) تر نامه لاندې دی ليکي، چې د ژبې ځواک د زده کړې يوه وسيله ده. هر څومره چې يو څوک په لوستلو کې تکړه وي، هر څومره چې د لغاتو ذخيره ولري، هغومره په اسانه ډول خپل افکار او خبرې ښې اورولای شي اوهومره ښه زده کولای شي او همدومره يې څه پخپله او څه هم دنورو په مرسته د زده کولو ظرفيت لوړ وي.

ژبه دتفکر يوه وسيله ده، نو ځکه په ژبه کې پرمختګ او ښه والی د زده کوونکي ذهني ځواک پياوړی کوي . يو ښه لوست د مفکورو د ښه تنظيم، د هغو د ښه غوره کولو ( د لوستونکي له موخې سره سم )، ارزيابۍ، تعديلاتو او دمفکورو له تنقيداتو سره سروکار لري.

همدارنګه دوکتور دورلست د خپل کتاب په ۲۰ مخ کې ليکي: د لومړنيو ښوونځيو يو لوی مسووليت دا هم دی، چې د ديموکراسۍ د ژبنيو عملياتو په ښوونه کې هم هڅې وکړي، په يوه ټولنه کې د ديموکراسۍ برياليتوب دهغې ټولنې د وګړو په تعليمي سويې يا د زده کړو په کچې پورې اړه لري، چې دوی په څومره ګروپې ( ډله ييزو ) خبرواترو، ډله ييزو پلانونو، ګډو فيصلو او پرېکړو کې برخمن او يو له بل سره مرستندوی دي. په ډله ييزو کارونو کې د کار د ګروپ هر غړی خپل نظر وړاندې کوي، زده کوونکي بايد د نورو د نظرياتو د اورېدلو اداب زده کړي او نورو ته دخبرو کولو وار ورکړي. هغوی بايد دنورو خبرې په کره توګه واوري، قضاوت ورباندې وکولای شي، په پای کې ټول نظريات سره انسجام کړای شي، د يوه ټوليز يا مجموعي پلان په بڼه يې راوستلای شي او د ډله ييز فکر کولو استازيتوب وکولای شي، چې همدا عملي ديموکراسي ده.

## د – په ژبښوونه کې معلومات، سوابق او لازم مهارت:

لومړی – خلک څنګه لوستلای شي ؟

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کله چې موږ یو لیک لولو ، نو په حقیقت کې یو شمېر تورې نښې پر کاغذ وینو او دغه نښې زموږ په دماغ کې د کلماتو معناوې راښیي، چې موږ له هغو سره اشنایي لرو یعنې دا هغه کلمې دي، چې زموږ په ذهن کې ټاکلي انځورونه مجسموي. د بېلګې په ډول که داسې یوه جمله ولولو چې: ( یو تورځرب پسه له اوبو پورې وت) نو موږ فوراً د یوه پسه، اوبو او له اوبو د پورې وتو عمل په ذهن کې مجسموو. موږ پسه لیدلی او د هغه بڼه اوڅېره په خپل ذهن کې لرو او رنګ (تور) سره هم بلد یو ،خو ددې پر ځای که له داسې یوې کلمې سره مخامخ شو ، چې مفهوم یې زموږ په ذهن کې مجسم شي او په مانا یې هم نه پوهېږو ، نو له هغې څخه مطلب هم نشو اخیستی.

د لوستلو په اړه ډېرې زیاتې څېړنې شوي او هر ډول لوست یو له بله بېل کړی شوی، په دې اړه ډېر زیات حقایق شته. د لوست په وخت کې د انسان سترګې هره کرښه په لنډو ، خو چټکو حرکاتو تعقیبوي، بیا یې بلې کرښې ته اوړي، دلته د هر بېلا بېل وګړي د سترګو د حرکت ترمنځ توپیر لیدل کیږي، که یو وګړی ګړندی لوست کولای شي کلمات ټول ویني ان دا چې څو څو کلمې په یو ځل لولي او په هماغه ګړندتوب یې مفهوم او معنا دده ذهن ته رسیږي، خو یو بل وګړی ممکن کمخوانه وي یا په ځنډ لوست وکړای شي چې یوه کلمه یو ځل ګوري بیا یې وروسته معنا ذهن ته ورځي ان دا چې ممکن د یوې کلمې هر توری بېلا بېل په ځنډ وګوري ترڅو چې معنا او مفهوم یې ذهن ته ورسیږي. ممکن هره کرښه پر سترګو سربېره د ګوتو په حرکت هم تعقیب کړي، همدارنګه امکان لري هره کلمه تلفظ کړي او په غږ سره یې ولولي، نو یوڅوک چې لومړی لوست زده کوي همداسې کوي. د یوه کوچني له سترګو څخه د لوست په وخت کې پوهېدای شئ، چې د هغه سترګې په هره کرښه کې څو څو ځله دریږي او هم لیدلای شئ، چې دهغه سترګې په داسې حال کې چې یو ځل له یوې کلمې څخه تېرې شوي، خو بیا پرې راګرځي او هغه بیا لولي. ممکن یو کوچنی یوه کرښه ګړندۍ ولولي، خو کله چې یوې نوې کلمې ته ورسیږي بیا ځنډ کوي او هڅه کوي د هغې په معنا پوه شي.

یو ډول ځانګړې کامرې شته چې کولای شي د انسان د سترګو حرکات د لوست پر مهال عکاسي کړي، داسې چې لوستونکی غلی ناست وي او خپله زنه پر مېز ږدي، چې د ده د سر دخوځېدو مخنیوي وشي، دا وخت کمره دده سترګو ته ځېر کیږي او د ده پر سترګو د رڼا یوه وړانګه غورځول کیږي، دا وخت لیکل شوې پاڼې دده د سترګو مخې ته ایښودل کیږي او په لوست پیلوي، د سترګو په هر ځل دربدو یو تور ټکی د کامرې پر فلم ثبتیږي او کله چې سترګې بلې کرښې ته اوړي د فلم پر مخ دا کرښه هم ثبتیږي. د فلم پر مخ د تورو ټکیو په شمېرلو سره پوهیږو ، چې د یوه تن سترګې څو ځله پر یوه کرښه دربدلې؟ په دې ډول د هغه د لوست ګړندیوالی سنجولای شو.

دوهم – هغه تجربې او مهارتونه چې کوچنیان یې مخکې له ښوونځي څخه لري:

دکوچنیانوسوابق د لوست لپاره د هغوی چمتوالی ښکاره کوي .کله چې کوچنیان په ښوونځي کې شاملیږي په خپله مورنۍ ژبه پوهیږي، پخپله په هماغه ژبه خبرې کوي، اوري یې او پرې پوهیږي او همدا د زده کړې لپاره له مهمو سوابق څخه شمېرل کیږي.

البته د یوه داسې ماشوم لپاره چې دهغه مورنۍ ژبه پښتو وي دا ډېر ستونزمن کار دی، چې هغه داسې ښوونځي ته ولاړ شي چې هلته تدریس په پاړسي ژبه وي اوهمدارنګه ددې سرچپه هم همداسې ده. د

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

لومړي ټولګي يو ښوونکی بايد پوه وي کله چې دی ښوونځي ته ځي، نو هلته په لومړي ټولګي کې له داسې کوچنيانو سره مخامخيږي، چې هغوی ډېرې شپږ کلن، لږ شمېر يې لږ څه لويان يا وړوکي وي، يعنې تقريباً زيات شمېر يا ټول يې په يوه عمر کې وي ان دا چې د نجونو په ښوونځيو کې ټولې نجونې په يو شان کاليو کې ښوونځي ته راځي، نو دا ظاهري يو شان ته والی ددې معنا لري، چې دوی به ټول په يو شان او يوه ذهني او جسمي سويه کې وي؟ دغه ماشومان يو يې له يو ډول شرايطو او کورنۍ څخه راځي بل يې له بل ډول شرايطو اوکورنۍ څخه، نو د دوی کورونه او کورنۍ يو شان نه دي او نه له هره پلوه يو له بل سره ورته والی لري.

د ماشومانو د ودې مضمون موږ ته د وګړيو توپيرونه راښيي او د ماشومانو د ودې توپير جوتوي، نو ځکه موږ بايد تل په ياد ولرو چې هېڅکله دوه ماشومان يوله بل سره ورته والی نه لري، خو که دوه ګوني وي هغه بېله خبره ده.

که له ميندو څخه پوښتنه وکړئ، چې ماشومان مو ان په يوه کور کې څومره توپير لري، نو ښکاره به شي چې د عينې کورنۍ ماشومان هم يوله بل سره ډېر توپير لري، يو ماشوم په لسو مياشتو کې په ګرځېدو راځي، بل ايله په يوه کلنۍ کې په ګرځېدو راځي، د يوه ماشوم غاښ په شپږمياشتني عمر کې لوی شي او بل تر اتو او نهو مياشتو پورې غاښ نه لري.

يو ماشوم په ډېر کوچنيوالي کې خبرې زده کوي او بل ممکن ډېر وروسته خبرې زده کړي او هم به تر هاغه بل ښې او واضحې خبرې وکړای شي، بل به ډېر په ځنډ او ځنډ خبرې کوي. يو ماشوم خپل لاس پېښې ښه پکار اچوي بل يې نشي اچولای. همداسې ډېر نور توپيرونه. زيات شمېر اروا پوهانو د نجونو او هلکانو څېړنې کړي او دې پايلې ته رسېدلي، چې معمولاً نجونې د هلکانو پر تله چټکه وده کوي، د بېلګې په ډول هغوی عقيده لري چې نجونې په شږ کلنۍ کې ښوونځي ته د داخلېدو لپاره چمتو کيږي، خو ښه به وي چې هلکان په شپږ نيم کلنۍ يا اووه کلنۍ کې ښوونځی پيل کړي. سره له دې هم هلکان د ساينس په زده کولو کې تر نجونو تکړه دي. کله چې هلکان او نجونې څوارلس کلنۍ ته ورسيږي،نو ليدل کيږي چې هلکان د نجونو پرتله ځواکمن وي.

## دريم – کوم شيان لوستلو ته د کوچنيانو چمتوالی ښکاره کوي؟

۱ـ د کوچني جسمي وده:

سترګې: کوچنيان لرې ليدونکي وي، په دې معنا چې شيان له لرې څخه ښه ليدلای شي، خو کله چې کوچنيان په لوستلو پيل کوي، نو دا کوچنيان بايد ډېرې کوچنۍ نښې د کاغذ د پاڼې پر مخ ووينې او له نږدې څخه د کوچنيو شيانو په ليدلو سره دهغه سترګې روږدې شي. بايد د هغه سترګې له ښې لورې مخ کينې خواته د کرښو په تعقيبولو کې وروزل شي. دماشوم د باصرې قوه بايد دومره ځېرکتيا ومومي چې سره ورته توري، لکه: د «او، و، ر، او ز» او نور يو له بل سره توپير کړای شي.

غږونه: ايا کوچنی کولای شي د سره ورته غږونو توپير وکړي؟ لکه تار او دار، ايا هغه کولای شي دا ډول کلمات په ښه ډول واوري؟.

عضلاتي کنټرول: ايا ماشوم پر خپل ځای ارام کېناستلای شي که پر خپله چوکۍ خوځيږي؟ له خپل کوم لاس څخه زيات کار اخلي؟ که يې په کيڼ لاس عادت اخيستی وي ايا د ده مور و پلار دا هڅه کړې، چې د

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ده دا عادت بدل کړي؟ يو شپږ کلن ماشوم بايد خپل هر هغه لاس چې ورته ډېر طبيعي ښکاري په کار واچوي. ايا هغه کولای شي د کرښو منځ رنګ کړي يا دا چې ددې کار لپاره د خپلو لاسونو حرکات نشي کنټرولولای؟ ايا هغه له توري درې څخه کلمات په ښه ډول را نقلولای شي؟

خبرې کول: ايا ماشوم په وضاحت سره خبرې کولای شي يا دا چې تلفظ يې واضح نه دی او ډېر ماشومانه دی، ايا د هغه ژبه بنديږي او ايا هغه د ځينو غږونو په تلفظ کې ستونزې لري؟

**۲-د ماشوم هيجاني وده:**

ايا ماشوم ډېر ژر په ژړا کيږي؟ ايا ماشوم په هغو ځايونو کې چې پخوا پکې نه و اوسېدلی يعنې په نااشنا ځايونو کې وېريږي؟ ښوونکې بايد له زده کوونکي سره دا مرسته وکړي، چې په خپل ځان کې پر خپل ځان ويسا والی (اعتماد به نفس) ته وده ورکړي او ځان په ټولګې کې ډاډه وبولي. ايا هغه تند او عصبي دی که خپلې ګوتې ژوي؟

**۳-د ماشوم ټولنيزه وده:**

ايا هغه له نورو ماشومانو سره لوبې کوي؟ که دا ماشوم په وړکتون کې وي، نو دا يې زده کړي چې له خپلو همزولو سره څرنګه راشه درشه ولري؟ ايا دغه ماشوم له خپل ځان څخه مشر ورور يا خور لري، چې هغوی يې ځان ته مطيع کړې وي او خپلې غوښتنې يې پرې منلې وي؟ يا دا چې پخپله همدا ماشوم تر نورو مشر دی او له ده څخه کوچنی خويندې او نور وروڼه لري او پر هغوی امر کوي او خپلې غوښتنې پرې مني. ايا دی داسې يو ماشوم دی چې په خپلې کورنۍ کې يوازې دی او د لوبو نورو همزولي نه لري؟

ايا هغه له نورو ماشومانو څخه وېريږي؟ ايا هغه انا، عمه، خاله او نور خپلوان لري، چې د هغه په روزنه کې يې ونډه اخيستې وي او هغه يې نازولی او د ماشومانه عاداتو په لرلو لوی کړی وي؟

د ماشوم ذهني وده: لکه چې وويل شول ځينې ماشومان د نورو پر تله تګ، خبرې کول او نور ډېر ژر زده کولای شي، همدارنګه ځينې بيا په زده کولو کې تر نورو چټک وي. هغوی د هغو ماشومانو پر تله چې ورو ورو وده کوي ډېر ژر د زده کړې لپاره چمتو وي، يو ذکي ماشوم طبعاً نظر نورو ته په کوچنيوالي کې زده کړه پيلوي او ډېر ژر يې زده کولای شي، په دې اړه د ماشومانو د زده کړې د ارزونې (ارزيابی) لپاره ځينې ټستونه (ازمېښتونه) شته، چې د هغوی په مرسته کولای شو هغه ماشومان چې ژر زده کړه کولای شي، د نورو پر تله وپېژنو او هغوی چې په ځنډ زده کړه کوي بېل کړای شو.

**۵-د کوچنيانو سوابق او تجربې:**

ايا ماشوم له کتابونو سره بلد دی؟ ايا مور و پلار يې کتاب ورته لولي؟ ايا د دوی په کور کې کتابونه شته، ايا دا احساسوي، چې لوستل يو په زړه پورې او مهم مهارت دی؟ ايا دغه ماشوم چېرې ګرځېدلی او مسافرت يې کړی، کله هوايي ډګر ته ورغلی او د الوتکو الوتل يې ليدلي؟ ايا د سړک جوړولو کار يې ليدلی او د بلډوزر په اړه چې خاورې يوه خوا بله خوا اړوي کله يې پوښتنه کړې؟ يا د اوښانو کاروان يې ليدلی او دا چې چېرته ځي پوښتنه يې کړې؟ پورته ياد ټول شيان هغه موضوعات دي، چې کولای شو د هغو په اړه ډېرې خبرې وکړو، دغه ټولې تجربې ماشوم له ځان سره ښوونځي ته راوړي او همدا تجارب دي، چې لوست هغه ته له مانا ډکوي او پر مفاهيمو ښه پوهيږي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


### ۲ـ د لغاتو ذخیره:

ایا د ماشوم د لغاتو ذخیره څنګه ده، کولای شي په وضاحت سره خبرې وکړي، ایا هغه داسې کلمات چې لویان یې وایي او اووه کلن ماشومان یې په معنا نه پوهیږي کارولای شي او که دا چې هغه په لنډو جملو خبرې کوي. ایا هغه د ټولګي په خبرواترو کې برخه اخیستلای شي او خپل نظر نورو ته څرګندولای شي؟ ایا هغه د لغاتو یوه پوره ذخیره او دهغوی ماناوې لري، چې هغه یې له خپلو تجربو ترلاسه کړې وي؟
هغه ښوونکي چې د ټولګي په لومړیو ورځو کې د لومړي ټولګي زده کوونکي څیړي، هڅه کوي پورتنیو پوښتنو ته ځوابونه ومومي. وروسته دهغو پر اساس قضاوت کوي او دې پرېکړې ته رسیږي چې ایا ماشوم چمتو دی لیک لوست پیل کړي او که نه.
په دې اړه ښوونکي له ځان څخه لاندېنۍ پوښتنې پوښتي:

- ایا ماشوم د ټولګي له دننه فعالیتونو سره مینه ښیي.
- ایا ماشوم ازادانه خبرې کوي او خپل مطلب نورو ته پوهولای شي.
- ایا ماشوم هغو کیسو ته چې ښوونکي یې په لوړ غږ دوی ته وایي مینه ښیي.
- ایا ماشوم د ښوونکي ځینې هدایات تر کومه تعقیبولای شي.
- د ده نوم چې لیکل شوی پېژني یې؟ هغه نښې چې د ټولګي پر دیوالونو ځړول شوي دي، پېژني؟ هغه کلمې چې څو څو ځلې پر کاغذ لیکل شوي پېژني؟ هغه کلمې چې لومړی توری یې د ده د نوم له توري سره ورته دي پېژني او د بېلا بېلو حروفو غږونه پېژندلای شي؟

### هغه ازمېښتونه (ټسټونه) چې لوست ته د ماشوم چمتووالی ښکاره کوي:

د ولایاتو ښوونکي په دې برخه کې د خپرو شویو ازموینو په اړه معلومات نه لري، چې د هغو له مخې لوست ته د ماشوم پر چمتووالي باندې پوه شي، ددغه ډول ازموینو برابرول ګران تمامیږي، یوازې یو څو په پښتو او دري محدودې ازموینې چاپ شوي، خو یو تجربه لرونکی ښوونکی څه ناڅه دهمدغو ټسټونو د ارزیابۍ په اندازه دماشوم په لیدلو سره دا پرېکړه کولای شي، چې نوموړی ماشوم څومره لوست ته چمتو دی او له دې پرته ځینې ساده ازموینې شته، چې خپله ښوونکی هغه پر ماشومانو پلي کولای شي.
**۱ـ د یوه انځور کښل:** ښوونکی یوه پاڼه کاغذ زده کوونکي ته ورکوي او د یوه انځور رسمول ورته وایي، کله چې زده کوونکی نوموړی انځور بشپړ کړي، نو د انځور هرې برخې ته ځانګړې نومرې ورکوي، په دې ډول هر ماشوم چې لوړې نومرې تر لاسه کړي، هغه د نورو پر تله لوست ته ښه چمتو والی لري.



Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

هغه ماشوم چې ښه او لومړی انځور بشپړ کړي، هغه د هغه ماشوم پر تله چې د کينې خوا انځور يې بشپړ کړی ډېر د زده کړې لپاره چمتو دی.

**۲.** د انځورونو ښودل: ښوونکی يو انځور خپل زده کوونکي ته ورکوي او له هغه څخه غواړي، چې دغه انځور شرحه کړي، هغه څه چې زده کوونکی يې وايي ښوونکی يې ليکي:

- ډېر ټيټ سويه زده کوونکي ښايي يوه يا دوه کلمې ووايي لکه (سپی او هلک).
- ممکن يوه يا دوه جملې ووايي لکه: (زه يو هلک وينم، زه يو سپی وينم).
- ممکن زده کوونکی خپله يوه يا دوه جملې ووايي، خو کله چې ښوونکی نومو ړې پوښتنې ور څخه وکړي او ورته ووايي چې نور څه ويني، نو ماشوم ممکن ووايي (تور سپی ډېر کوچنی دی).
- يو ماشوم ممکن په ازاد ډول د انځور په اړه خبرې وکړي او ډېر څه ووايي ان دا چې يوه لنډه کيسه د هغه انځور په اړه وکړي، د بېلگې په ډول ممکن ووايي: په دغه انځور کې يو کوچنی سپی له هلک سره د سړک کوزې خوا ته ځي، فکر کوم چې هلک ښوونځي ته ځي او د هغه سپی هم ورسره ځي، ممکن د هغه ښوونکی يې سپی بېرته کور ته وليږي...
- يو ماشوم ممکن د پورته په شان عکس العمل وښيي او پر دې سربېره ممکن له خپل ښوونکي څخه د انگور په اړه پوښتنه وکړي، چې دا له موضوع سره د هغه مينه ښکاره کوي، د بېلگې په ډول له ښوونکي څخه پوښتنه کوي ايا دا سپی د همدغه هلک دی؟ ايا ښوونکي دا انځور له کومه کړی؟ يا هغه داسې نور انځورونه لري؟ ولې يې دا انځور دوی ته راوړی او داسې نورې پوښتنې.

**۳.** پر کاغذ باندې د بېلا بېلو انځورونو رسمول د هغوی د لويوالي او کوچنيوالي د ښودنې لپاره يا د هغو د ورته والي او يا يو له بل سره يې د توپيرونو په خاطر يا د لاس د عضلاتو د تمرين په اړه.

د بېلگې په ډول کوم يو لوی او کوم يو کوچنی دی؟



Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کوم یو له نورو سره توپیر لري؟


کوم انځورونه له یو بل سره ورته دي؟

خپل قلم واخلئ او پر لاندي ټکیو کرښه وکاږي؟

................


................




Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


پر لاندې ټکو باندې هغه انځورونه چې دهغوی تر څنګ دي وکاږي؟



د لاندې انځورونو نقل کتې مټې وکاږئ؟




لاندنې انځورونه، لکه دهغو انځورونو په شان چې دهغوی په خوا کې دي بشپړ کړئ.




Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

دغه شکل یو ځل بیا رسم کړئ



یادونه:

د دغو فعالیتونو پر اساس او د دغو ساده ازموینو په ترسره کولو سره ښوونکی کولای شي ماشومان په بېلا بېلو ګروپونو ووېشي، هغه ماشومان او زده کوونکي چې لږ څه مخکې اوذکي دي، کولای شي په سیده ډول د لومړي ټولګي د لوست کتاب پیل کړي، بل ګروپ چې په منځني حد کې دی یعنې د لومړي ګروپ د زده کوونکو په اندازه لیاقت او ذکاوت نه لري هغوی کولای شي د کیسو په اورېدو، د لغاتو او کلماتو په تمرین، د ځینو چارټونو په لوست او پر نورو اسانه کارونو بوخت شي، چې دا ټول د دوی په تجربو کې زیاتوالی راوستی شی دا دوی ته د خبرواترو موضوعات برابروي. البته یو شمېر فعالیتونه شته چې کوچنیان لوست ته ښه چمتو کولای شي.

په لنډ ډول ویلای شو، لکه څرنګه چې کوچنیان د جسمي ودې له پلوه یو له بل سره توپیر لري، همداسې هم د ذهني او ټولنیزې ودې او رشد له پلوه یو له بل سره توپیر لري. دغه ټول حقایق باید یو ښوونکی چې د لومړي ټولګي زده کوونکو ته لوست ښیي په نظر کې ولري.

## د لومړنیو زده کړو پروګرام ته یو عمومي نظر:

د لومړنیو ښوونځیو ښوونکو ته کومه موضوع چې د ډېر ارزښت وړ ده، هغه داده چې د خپل تدریس ساحه د لوست له کتاب څخه بهرته هم پراخه کړي.

کله چې ښوونکی هغه پیشنهادونه ( وړاندیزونه) چې د لومړنیو ښوونځیو د درسي پروګرام په اړه د پوهنې وزارت له خوا جوړ شوي ولولي، نو ورته څرګندیږي چې په هغه کې د ژبې د تدریس د ښه والي او پیاوړتیا او لا پراختیا لپاره هڅې نغښتي، په هغه کې زده کوونکو ته د ورځنیو موضوعاتو او په لفظ او مفهوم سره د مسایلو پر ښودنه باندې ټېنګار شوی، په دې اصولنامه کې ښکاره شوي، چې وچ او تش تکرار هېڅ ګټه نه لري او بېځایه تکرارونه وخت له لاسه باسي او زړه توروالی رامنځته کوي. ( ۹ماده، ۹مخ).

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

خو سره له دې هم په ځینو کلیوالي ښوونځیو او ان دا چې په ځینو ښاري ښوونځیو کې له داسې د لومړیو ټولګیو ښوونځیو له ښوونکو سره مخامخیږو، چې دوی په هماغه ډول چې دوی ته ښوونه شوې، هماغسې لګیا دي او اوس هم درس ورکوي. د بېلګې په ډول ښوونکي او ټول زده کوونکي په لوړ اواز یو ځای لوست تکراروي، چې په دې ډول زده کوونکي صرف کلمات په یادو زده کوي. زده کوونکي ځو ځو ځله د کتاب محتویات له یاده کوي، خو د کتاب له مخې څه نشي لوستلای، یا دا چې ښوونکي د ټولګي له یوه ذکي زده کوونکي څخه غواړي، چې یو پرګراف یا یوه پاڼه ولولي او نور زده کوونکي دې خپلو کتابونو ته ځېر شي ان دا چې ځینې وخت کلمات د خپلو ګوتو په واسطه تعقیبوي یعنې د لوست پر مهال ګوته پرې کاږي او پر مخ ځي.

همدارنګه یو بل زده کوونکی بیا درس لولي، ورپسې یو بل راځي لولي یې، تر هغو چې د ټولو وار ورسیږي او لوست په لوړ غږ ولولي او نور زده کوونکي غوږ نیسي اوکرښو ته ځیر وي. د درس او زده کړې په دې طریقه کې مناقشات نشته او نه داسې کومه لاره شته، چې پوه شو ایا رښتیا هم زده کوونکي په هغه څه پوه شول چې لولي یې کنه.

الف۔قرائت:

## د لومړنیو زده کړو پروګرام د قرائت په اړه وایي:

۱. له لوستلو څخه موخه د هغه څه پوهېدل نه دي، چې لیکل شوي. د اماده په ښکاره ډول ښیي چې یو لوست باید بې له مانا او مفهوم څخه صرف ځو ځو ځله په لوړ غږ په زده کوونکو تکرار نه کړو، دلته موخه داده چې زده کوونکي دې ته اړ نه شي چې لوست د توتي په شان یاد کړي، بلکې د هغه په مفهوم باید پوه شي. ښوونکي ته لازمه ده چې پوښتنې وکړي، د زده کوونکو پوښتنې راوپاروي او غوږ ورته ونیسي بیا یې ښه ځواب ورکړي، په ټولګي کې مناقشات او خبرې اترې رامنځته کړي او په دې ډول یې یقین راشي چې زده کوونکي پر هغه څه چې لولي یې پوه شوي دي. د قرائت د هدف ټاکل ډېر مهم دی او باید دغه هدف ته د رسېدو لپاره له زده کوونکو سره مرسته وکړو، د بېلګې په ډول له ځان سره پرېکړه وکړو چې زده کوونکي باید له یوه ټاکلي لوست څخه څه زده کړي. که له ځان سره داسې یو هدف ونه لرو، زده کوونکي په هماغه توتي ډوله حفظ کولو باندې روږدي کیږي، د لوست له مفهوم څخه بې خبره پاته کیږي، د لومړیو ښوونو پروګرام ښیي چې، معنا د لوستلو بنسټ جوړوي.

دښوونځي ژوند او په تېره بیا هغه څه چې زده کوونکي په ګډه پرې بحث او خبرې کوي د لوست و لیکلو لپاره ډېر برابر فرصت برابروي، باید هڅه وکړو چې د لیک لوست لپاره له همدغه ډول فرصت څخه زیاته ګټه واخلو. دا په ښکاره ښیي چې ښوونکی باید د خپل لوست موضوعات د لوست له کتاب څخه بهر موضوعاتو ته هم ور پراخ کړي. ملي او محلي پېښې د زده کوونکو د لوست لپاره ډېر په زړه پورې موضوعات کېدای شي، چې په دې اړه ښوونکي له زده کوونکو سره خبرې اترې وکړي او شاګردان د هغو په اړه ولیکي او ښوونکي د هغوی د قرائت لپاره په دې اړه ځینې لوحې ولیکي. ښوونکي او زده کوونکي کولای شي د خپل ښوونځي اود خپل شاوخوا ژوند په اړه کیسې ولیکي، دا شیان هم په لوحو لیکلای شو او له هغو څخه د درسي موادو په ډول کار اخیستلای شو، همدارنګه زده کوونکي کولای شي د لیکنو د تشریح لپاره ځینې انځورونه وکاږي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**۳.** د پوهنې وزرت د لومړنیو زده کړو د تدریساتو پروګرام څرګندوي، چې که لیک او لوست د ورځنې ژوند پر بنسټ وي، ښوونکي اړ نه دي، چې یوازې د لوست دکتاب په متن پورې تړلي پاته شي، بلکې دقرائت کتاب یوازې د یوې وسیلې یا واسطې او الې په ډول کارولای شي، چې ځینې ځینې وخت هغه ته اړه پیدا کېږي او هغه څه چې د لیک لوست په پیل کې له هغو څخه کار اخېستل کېدای شي دادي:
چارټونه ( لوحې )، هغه لویې دړې چې پر هغو کلمات او جملې د زده کړې لپاره لیکل شوي وي او پر دیوالونو او د تورې تختې خواته ځړول شوي وي، دا لوحې د ساینس په لوست کې هم لکه د لیک لوست د درسونو په شان جوړې او کارول کېدای شي.
کوچني ټکټونه چې پر هغو جملې او کلمې لیکل شوي او دا ټکټونه هغه وخت چې د کوم نوي لغت یا جملې درس ورکړل شي زده کوونکو ته ورکول کېږي او لوستل کېږي.
د دې لپاره چې زده کوونکي دغه مواد په لازم وخت کې تر کار لاندې ونیسي،نو د قوطیو په منځ کې ساتل کېږي، که ممکنه وي نو ښوونکی دې دا ټکټونه د ګستدنر یا ټاپې په واسطه چاپ کړي.

- توره تخته: د لیک لوست پر مهال توره تخته هم زیات ارزښت لري، له یوې خوا ښوونکي له هغې څخه کار اخلي او له بلې خوا په یوه وخت کې زیات شمېر زده کوونکي ورڅخه ګټه اخلي.

ښوونکي باید پر توره تخته لیک ښه تمرین او مشق کړي، ځکه چې د ده لیک باید ښه واضح، د لوست وړ او کرښې یې سیخې وي. ښوونکي معمولاً د نویو کلمو او لغاتو د ورپېژندلو لپاره او د هغو مهمو ټکیو او مهمو جملو او کلمو د لیکلو لپاره له تورې تختې څخه کار اخلي چې غواړي د زده کوونکو په ذهن کې کېني.
دلوست په زده کړه کې دخاورو او شګو له مېز څخه هم کار اخېستل کېدای شي، په تېره بیا په کلیو کې یعنې په هغو ځایونو کې چې د لیک لوست نور وسایل ډېر لږ وي او ټولګي دمیدان پر مخ وي، چې په داسې ځایونو کې کلمات او حروف د خاورو پر مخ یا د رېګ پر مېز لیکلای شو.
**۴.** ښوونکی باید زده کوونکو ته د تاریخ، سیاحت، حکایاتو، شعر او نورو هغو کتابونو په اړه معلومات ورکړي یا داسې کتاب زده کوونکو ته وښیي، چې د هغوی له سویې سره برابر وي او دوی وهڅوي چې د بېکارۍ په وخت کې دا کتابونه ولولي او هغه څه یې چې لوستي خپلو نورو ملګرو ته یې نکل وکړي او د نوموړو کتابونو د محتویاتو په اړه خپل افکار او نظر نورو ته افاده کړي(**۹**ماده، **۲**مخ).
هیله ده چې لوستل شوي مواد د قرائت له کتاب څخه پرته د ښوونکي په واک کې وي او هغه دا ډول مواد خپلو زده کوونکو ته ورکړل شي. د ښوونځیو له کتابتونو څخه پرته باید وهڅول شي چې زده کوونکو ته دا ډول کتابونه ورکړي، خو په هغو ځایونو کې چې دغه ډول کتابونه نه وي، هر ډول نور کتابونه یا مجلې چې وموندل شي باید را ټول او د لوست پر مېز کېښودل شي، چې په دې ډول زده کوونکي کولای شي پر خپل قرائت کتاب سربېره له دغو شیانو څخه هم ښه کار واخلي او خپل استعداد ته وده ورکړي.
**۵.** ښوونکي د هغو اخځونو له مخې چې د کتاب په وروستۍ برخه کې ورکړل شوي کولای شي زده کوونکو ته نورې ببلګې هم وړاندې کړي ،ددغه بحث کیفیت د کتاب له منځه د پوهې وړ وګرځوي او د لغاتو له کتاب څخه د لغاتو د موندلو ډول زده کوونکو ته وښیي:( **۱۰**ماده، **۱۲**مخ).

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۶. په یوه لومړني ښوونځي کې باید زده کوونکي د اخبار په لوستنه هم روږدي شي او ښوونکي دې زده کوونکو ته له اخبار څخه استفاده ور زده کړي.(۱۱ماده، ۱۲مخ).
اخبار د جغرافیې، تاریخ، ساینس او ان د ریاضي لپاره یو ډېر ښه مرستندوی (ممد) شمېرل کېدای شي او د زده کړې په برخه کې ډېر ګټور ثابتېدای شي.
۷. په زده کوونکو دې منظوم او منثور اثار چې د هغوی له سویې سره برابر وي او ملي بدیعي ارزښت لري حفظ کړای شي (۱۵- الف ماده، ۱۳مخ).
که ښوونکي داسې شعرونه چې ملي او ادبي ارزښت لري په لوړ غږ ولولي، له یوې خوا ورسره د زده کوونکو د لغاتو ذخیره پیاوړې کېږي او له بلې خوا زده کوونکي د خپلې مورنۍ ژبې له ښکلا او ښېګڼو څخه خوند اخلي. دغه حفظېدونکي پارچې باید داسې غوره شي چې زده کوونکي یې په مانا پوه شي او خوند ورڅخه واخلي، ښېګڼې یې وپېژني او خوښې یې شي.
د شعرونو لوستل او حفظول د زده کونکو د مورنۍ ژبې مطالعه بډایه او با ارزښته کوي، ځکه چې زیات شمېر باریک خیالات په ادبي لیکنو کې ځای شوي وي. یو ایرانی لیکوال وایي: نړۍ د ادبیاتو خوږوالی ستایلی، نو ځکه باید زده کوونکو ته وخت ورکړل شي چې له هغو ګټه واخلي.
۸. ښوونکي دې خپلو زده کوونکو ته ورزده کړي، چې د یو ازبېتوب په وخت کې دې له غوره شویو پارچو د حفظ لپاره څنګه کار واخلي او هغه کله په زده کوونکو تکرار کړي او د هغو د هېریدلو مخه یې ونیسي (خ ماده، ۱۴مخ).

## له افادې سره د زده کوونکو عادي کول:

کوم مواد چې تر اوسه لیدل شوي ټول د قرائت یعنې د ژبښوونې په یوې څانګې پورې اړه لري. د لومړنیو زده کړو پروګرام د خبرو کولو او اورېدلو په اړه هم ځینې مواد لري، په دې پروګرام کې ښوونکي په څو ځایونو کې ځیر کړای شوي، چې زده کوونکو ته د خبرو کولو وخت ورکړل شي او د مناقشاتو او مذاکراتو موقع ورکړل شي. زده کونکي خپله مورنۍ یا دوهمه ملي ژبه هغه وخت پیاوړې کولای شي، چې خبرې پرې وکړي، ویې لیکي او له نورو یې په واضح او صحیح ډول واوري. ددغه پروګرام مواد څرګندوي، چې د افادې د صنعت مهارت ترلاسه کول زده کوونکي ته هغه وخت په لاس ورځي چې په ښوونځي کې له داسې حالاتو سره مخامخ شي چې افادې ته طبیعي اړتیا پېښه شي.
ښوونکي دې زده کوونکي داسې وروزي، چې د یوه ګډ ټولي په ډول چې ګټې او زیان یې سره شریک او مشترک وي، ژوند وکړي (۲ماده، ۱۴ماده).
ښوونکي د زده کوونکو په طبیعي افاده او خبرو کولو هغه وخت بریالي کېږي، چې پر خپلو زده کوونکو داسې موضوعات پلي کړي، چې د ښوونځي او د زده کوونکي له ژوند څخه سرچینه ولري، د بېلګې په ډول کله چې زده کوونکي اړ شي د خپلو همزولو په مخکې له هغې مفکورې څخه دفاع وکړي، چې دی یې پلوی دی، نو دا وخت د مقابل لوري په افکارو د ژورې اغېزې په اچولو، هغوی د خبرو د اورولو پر اهمیت پوهېږي او د کلماتو د ښه تلفظ او ښه اورولو په لټه کې کېږي (۲ماده، ۱۴مخ).
د پوهنې وزارت د لومړنیو زده کړو پروګرام په خپله یوه ماده کې لیکي: ښوونکي باید د زده کوونکي هغه اړتیا چې په ښوونځي او له ښوونځي څخه بهر یې خبرو کولو او افادې ته لري وپېژني او له هغو ګټه

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

واخلي، خو څرنګه چې په ښوونځيو کې ليدل کيږي زده کوونکي ډېر لږ دا موقع مومي چې خبرې وکولای شي اوکه وخت هم ومومي اړ دي، چې له خپله ځايه پاڅي او په خاصو تشريفاتو خبرې وکړي، دغه رويه د طبيعي مذاکرې او خبرو رويه نه ده. د تدريساتو ذکر شوی پروګرام په مناقشاتو زيات زور اچوي، ان دا چې وايي: ښوونکي دې، زده کوونکو ته وخت ورکړي چې په بېلا بېلو مضامينو کې د ښوونځي د زده کوونکو د ژوند او نورو مسايلو په اړه زده کوونکي خبرې وکړي او د بحث او افکارو د تبادلې ټول شرايط په پام کې ونيسي (۲ ماده، ۱۲مخ).

مناقشه د تدريس يوه ډېره مهمه وسيله ده، خو زده کوونکي بايد داسې وروزل شي چې د بحث ټول اداب او شرايط په پام کې ولري، هغوی بايد پوه شي چې په خبرو کې نوبت مراعات شي، ټول په يو ځل خبرې پيل نه کړي، هغه چا چې خبرې پيل کړې د هغه خبرې بايد پرې او اخلال نشي. زده کوونکي هغه وخت په مناقشاتو کې ښه برخه اخلي چې خپل نظريات په ښکاره اظهار او وهڅول شي.

ج ـ اورېدل: د ښه اورېدلو عادات د ښو خبرو کولو له عاداتو سره نږدې اړيکې لري، لکه د افادې په بحث کې چې وويل شول، زده کوونکي بايد د خبرو کولو پر وخت د خبرو کولو اداب په پام کې ولري، همدا خبر د اورېدو په برخه کې هم صدق کوي.په يوه لومړنې ټولګي کې بايد ښوونکي د څو قاعدو رعايت وکړي دغه قاعدې ډېرې لږې او ډېرې ساده دي چې لاندې توضېح کيږي:

- زده کوونکي بايد مودبانه او په زړه پورې ډول سره د نورو خبرې واوري. زده کوونکي بايد دا زده کړي چې په خپلو مناقشاتو کې د نورو له نظرياتو او افکارو څخه هم کار واخلي.
- زده کوونکي بايد هڅه وکړي، چې د خبرو کوونکو هغه مهمه مفکوره په ښه ډول تعقيب کړای شي.
- زده کوونکي بايد په خپل ځان کې د لټون او کنجکاوۍ يو عادت ته وده ورکړي يعنې وکولای شي چې د خبرو ځينې برخې ځان ته ثبوت کړي او دهغو په اړه نور توضېحات هم وغواړي.
- بايد زده کوونکي د پوښتنو يا د خبرو کوونکو د پېښو (تقليد) په کولو دا وښيي چې دوی د خبرو لوري ته ځير دي.

## د ـ ليکنې (تحريري) افاده:

د لومړنيو تدريساتو پروګرام د موضوعاتو د ليکنې او تحريري افادې په اړه هم ځينې وړانديزونه لري، چې د زده کوونکو د قرائت له کتاب څخه بهر دي او ښوونکي ته د کورنۍ وظيفې او له ټولګي څخه د بهر کارونو په اړه يوه ښه مفکوره ورکوي.

دغه پروګرام دا هم جوتوي چې د ليکنې له افادې سره د زده کوونکو د عادي کولو لپاره د تقريري افادې او وينا کولو اصول د بنسټ په توګه کېښودل شي، زده کوونکي بايد د موضوعاتو په اړه ليکنه وکړي او مقالې وليکي چې د دوی له پوهې سره برابرې وي.

د بېلګې په ډول زده کوونکو ته وخت ورکړل شي چې د خپل ښوونځي او د کورني ژوند په اړه څه وليکي او کله چې يو زده کوونکی د خپلو کتنو پايله ليکي، بايد وهڅول شي چې دوی خپل شخصي احساسات او ابداعي کتنې په ليکنه کې ښکاره کړي (۲ماده، ۱۸مخ).

يوه بله موضوع چې له زده کوونکو سره ډېره مرسته کوي، په تېره د تاريخ په موضوع کې مهمه ده، هغه داده چې زده کوونکي خپل ځان د يوه ټاکلي شخص په توګه فرض کړي او بيا خپل اوصاف جوت کړي، چې

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

دا ډول دتاریخ په اړه د زده کوونکو زده کړه پیاوړې کوي، د ملګرو لپاره د لیک لیکل یا د ناروغۍ د رقعې لیکل او نور هم زده کوونکو ته ډېر ګټور ثابتېدای شي، زده کوونکو ته باید د ښوونځي په دیوالي اخبارونو کې د لیکلو موقع ورکړل شي .که د لوړو ټولګیو زده کوونکي څه لیکي او هغه چاپ شي، بیا دغه چاپ شوې لیکنې د ټیټو ټولګیو زده کوونکو ته وښودل شي، دوی ډېر هڅیږي او د دواړو سویو زده کوونکو ته ګټورې دي. په دې ډول د ښوونې او روزنې له پروګرام څخه بهر فعالیت هم ډېر اغېزمن وي او د ژبښوونې په برخه کې ور باندې تاکید شوی. ځینې ښوونکي ممکن پوښتنه وکړي چې موږ د قرائت ( لوست) کتاب په بشپړلو مکلف یو ، د نورو فعالیتونو لپاره وخت نشته، خو باید وویل شي چې د لوست کتاب یوازې یوه وسیله یا اله ده چې ځینې وخت هغه ته مراجعه کېدای شي ( و ماده، ۹ مخ).

د تفتیش او نظارت تعلیماتنامه د یوه ښوونکي ځانګړنې داسې تعریفوي: یو ښه ښوونکی دې د خپل زده کوونکي توافق او علایق په نظر کې ونیسي او د زده کوونکي پخوانیو تجربو او زده کړو سره دې نوې زده کړې او دنیویو تجربو اړیکې ټېنګوي . یو ښه ښوونکی له ضعیف ښوونکي څخه د زده کوونکي او ښوونکي ترمنځ له پوښتنو څخه هم پېژندل کېدای شي او بله دا چې ښه معلم د تختې، درسي وسایلو ، نویو لغاتونو ، چارټونو ، رسمونو او له نورو څخه هم پېژندلای شو ، چې هغه څرنګه کاروي او څرنګه زده کوونکو ته دموضوع په اړه مثالونه ورکوي.

نو ځکه ویلای شو چې د تفتیش او نظارت هییات یوازې د لوست کتاب له مخې پرېکړه نه کوي، بلکې په خپل قضاوت او پرېکړه کې د وسایلو کارول، نقش، چارټونه، مناقشات، د درس طریقې او نور هم په پام کې نیسي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د زده کوونکو ترمنځ فردي توپیرونه او په دې برخه کې د ښوونې او روزنې د اصولو دریځ

ښوونکو ته دا موضوع روښانه ده چې زده کوونکي ټول په یوه سویه نه دي، بلکې یو له بل سره توپیر لري. په یوه ټولګي کې یو شمېر کمزوري زده کوونکي هم وي، چې د ښوونکي زیاتې پاملرنې ته اړ وي. په همدې ټولګي کې یو شمېر ذکي زده کوونکي هم شته چې باید ښوونکي هغوی وهڅوي او بوخت یې وساتي. اوس پوښتنه داده چې یو ښوونکی څرنګه کولای شي د یوه ټولګي د ځلوښتو یا له هغو زیات شمېر زده کوونکو سره خپل پلان په بېلا بېله توګه پر مخ بوځي؟ دا هدف په دې ډول ښه ترسره کیږي چې ټولګی په ګروپونو ووېشل شي. د بېلګې په ډول ټولګی په دوو ګروپونو وېشلای شو، یو یې ذکي زده کوونکي بل یې کمزوري کیدای شي. ځلورم ټولګی داسې زده کوونکي وي، چې د هغوی د لوست سویه له دریېیم ټولګي سره برابره وي، داسې هم کیږي چې په ځلورم ټولګی کې داسې زده کوونکي وي چې د لوست سویه یې د پنځم او ان له شپږم ټولګي سره برابره وي، نو ښوونکي کولای شي د ذکي زده کوونکو لپاره نور مواد لکه اخبار او مجلې هم بېلې کړي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ضرور نه ده، چې له زده کوونکو سره عيناً لکه د لويانو په شان له بسيط څخه د مرکب خواته پر مخ ولاړ شو، بلکې د کوچنيانو ذهن له لويانو سره توپير لري يعنې د اشياوو د استعمال طرز له ساده څخه د مرکب خواته پر مخ نه بيايو، بلکې مهمه داده چې د زده کوونکو فردي مينې او علاقمندۍ ته پام وساتو، له هغه څه سره چې زده کوونکي مينه لري د هغو اجرا وروسته هېڅ ستونزمن کار نه دی، کوم شی چې زده کوونکي مايوس او ستومانه کوي هغه د ده د خوښې پر خلاف، د نورو له امر سره سم او په نه پوهېدل شويو کارونو اړ ايستل دي. زده کوونکي د بېلابېلو قابيليتونو په لرلو ښوونځي ته راځي، ښوونکي بايد د زده کوونکو دا استعدادونه وپېژني او هغوی وروزي (د ه او ۲ مادی څخه، ۵۱مخ).
اروا پوهانو کوچنيان په بېلا بېلو برخو وېشلي، خو ډېره مهمه خبره داده چې ښوونکي بايد خپل زده کوونکي وڅېړي او له ځان سره وسنجوي چې څرنګه هغوی په زده کړه کې وهڅوي او مرسته ورسره وکړي.
ذکر شوی پروګرام دا هم روښانه کوي چې ليک او لوست بايد د زده کوونکو له روحي غوښتنو سره برابر وي. لومړنی ليک لوست بايد له ساده جملو او کلمو څخه پيل شي، ور پسې تحليلي او ترکيبي جملې او کلمې زده کړای شي او ورو ورو د ليک لوست قابليت رامنځته کړي او وده ورکړي (۲ماده، ۷مخ).
دا پروګرام دا هم وايي هغه جملې او کلمې چې په زده کوونکو زده کيږي، بايد د هغوی له فکري سويې سره سمون ولري (جيم ماده، ۸ مخ).
ددې لپاره چې زده کوونکي يوه جمله ډېر ژر ولوستلای شي، بايد هغه ښه وپېژني. زده کوونکي ته د يوې جملې د پېژندلو لپاره يوازې د حرفونو پېژندنه کافي نه ده، بلکې د کلمې بڼه بايد څو څو ځله وګوري او دا کلمې په بېلا بېلو جملو کې تکرار شي، چې هغه ښه وپېژني. وچ او تش تکرار کومه ګټه نه کوي بلکې هسې وخت ضايع کوي، تکرار بايد له ډېر دقت سره يو ځای وي چې له هغه تکرار څخه يوه اغېزه رامنځته شي. له لوست څخه مقصد دادی چې پر هغه څه پوه شو، چې ليکل شوي دي (۱ماده، ۹ماده).
هغه څه چې زده کوونکي يې ليکي بايد د زده کوونکو د ژوند له چاپېريال څخه غوره شوي وي او ښوونکي ددې زمينه او وسيله برابره کړي، چې د زده کوونکو ذهن په کار واچوي او ورو ورو د زده کوونکو فکري وده پياوړتيا ومومي.
کله چې موږ پورته مواد څېړو، نو په هغو کې له ښوونکي څخه دا هيله کيږي، چې اروايي پرنسيپونه تر کار لاندې ونيسي. دغو موادو د زده کوونکو د ودې او نمو او د ښوونې او روزنې له قوانينو سرچينه اخيستې ده. د ښوونې او روزنې پرنسيپونه دادي:

۱. کوچنی هغه څه ډېر ژر زده کولای شي چې مينه او علاقه يې ورسره وي.
۲. کله چې کوچنی د زده کولو وړ شي او دهغې موخې ترمنځ اړيکو باندې پوه شي کومو ته چې دی غواړي ځان ورسوي، نو زده کړه ډېره ښه پرمخ بيايي.
۳. يو کوچنی هغه وخت هم ډېره ښه زده کړه کوي، چې د زده کړې څيزونه پرلپسې په دوامداره ډول وکاروي.
۴. کله چې يو کوچنی د خپلو موخو او هدفونو په ټاکلو کې برخه ولرلای شي هم ډېر ښه زده کړه کولای شي.
۵. يو زده کوونکی هغه وخت هم ډېره ښه زده کړه کولای شي، چې د هغه زده کړې د ده له پخوانيو او اوسنيو تجربو سره ډېرې ښې اړيکې ولرلای شي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۶. همدارنګه یو کوچنی هغه وخت ډېره ښه زده کړه کولای شي، چې د زده کړې مساعد او مناسب ځای ورته چمتو وي.
۷. او په پای کې کوچنی هغه وخت ښه زده کړه کولای شي، چې د زده کړې په وخت کې ځانګړي توپیرونه او فردي اختلافات په پام کې نیول شوي وي.
جرسلدو ګیتس همدا خبره د خپل رونیزې اروا پوهنې کتاب په نهم څپرکي کې کړې. دغه کتاب د –زده کړې عمومي طبیعت تر عنوان لاندې لیکل شوی. په دې کې لیکل شوي چې: زده کړه په ډاډه ډول هغه وخت ډېره ښه ترسره کیږي، چې د زده کړې لپاره هیله او میل او د لرلو لپاره یې مینه موجوده وي او د زده کړې لپاره یو دلیل او هڅوونکې انګېزه او تشویق موجوده وي. هغه زده کوونکي چې لږې نمرې اخلي دا له دې امله چې هغوی د خپلې او سنۍ اړتیا او زده کړې ترمنځ اړیکې نشي موندلای.
دوی فکر کوي هغه خوارۍ چې د ښوونکي له خوا پر دوی د زده کړې لپاره ترسره کیږي ټولې بې ګټې دي.
کتاب لیکي چې که د دندو سپارل زده کوونکي ته ګټه ونه لري، نو پرې دې ښودل شي چې زده کوونکي پخپله له خپلې اړتیا سره سم څه زده کړي او د کورنۍ دندې پر ځای د خپلې خوښې پر زده کړې باندې وخت تېر کړي. یعنې له څه سره یې چې مینه وي هماغه دې ولیکي او ودې لولي. د زده کولو د فعالیت اغېزمنتیا له یوې خوا د زده کوونکو په ودې پورې اړه لري او له بلې خوا د دوی په پخوانیو تجربو پورې هم اړه لري.
هڅونه د زده کړې یو لومړنی شرط دی، هڅونه د اهدافو او د ماشون د موخو په اړه کیږي، له پورته ټولو خبرو څخه څرګندیږي چې زده کوونکي له هغه څه سره چې زده کوي یې باید مینه ولري او د خپلې مطالعې او موخو ترمنځ اړیکې وموندلی شي، هغه تکرارولو ته اړتیا لري چې خپلې زده کړې په ذهن کې کېنوي، خو دغه تکرار باید بې مانا تکرار او د وخت ضایع کول نه وي، باید زده کوونکي ورځنی لوست له ورځني ژوند سره مرتبط کړای شي، ځکه دغه لوست باید ده ته مفهوم پیدا کړي، یو کوچنی هغه وخت ډېره ښه زده کړه کولای شي چې د ده ښوونکي مهربانه او زړه سواندي وي، د ټولګي خونه نه ډېره توده او نه ډېره سړه وي، لوست باید د زده کوونکي له سویې سره برابر او کلمات یې د پوهېدو وړ وي. هغه مهمه خبره چې ښوونکي یې باید په یاد وساتي داده، چې کوچنیان د خپلو استعدادونو له مخې او د ودې او مهارت له مخې یو له بل سره ډېر توپیر لري.


# اوربېدل

د اوربېدلو په اړه څوورړاندیزونه:
له دې کبله چې اوربېدل د ژبې د زده کړې لومړنی ار دی، نو لومړی به دا خبره وکړو چې څرنګه د اوربېدلو مهارت ته وده ورکولای شو، اوربېدل څرنګه اصلاح شي او ښه والی پکې راوستل شي؟ کوچنی غوږ نیسي چې بېلا بېل غږونه واوري، بیا هڅه کوي چې خپله هماغسې غږ زده او ویې کاږي. ماشوم له ښوونځي څخه څو کاله مخکې دا هڅې کوي، خو لکه څرنګه چې لیدل کیږي په ښوونځیو کې ډېره لږه هڅه کیږي

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

چې زده کوونکي په وضاحت خبرو کولو ته ځېر کړای شي او دا چې زده کوونکي دې په اغېزمنه توګه اورېدو سره ځېر کړای شي هېڅ پام نه دی شوی.
ښوونکي زياتره وخت وايي چې زده کوونکي غوږ نه نيسي يا پام نه کوي او داسې نور، نو په دې ډول زيات وخت د موضوعاتو تکرارولو ته ورکول کيږي او زيات وخت د هغو تېر وتنو په اصلاح کولو تېريږي چې د سم غوږ نه نيولو او غلط فهميو له کبله پېښې شوې دي.
اورېدل ددې غوښتنه کوي چې زده کوونکي وپوهيږي، معنا دا چې په هغه ژبه پوه شي، د بېلګې په ډول موږ به په روسي ژبه خبرو ته غوږ نيولی وي يا به د يو چا په انګليسي ژبه خبرې اورو، خو تر څو په ذکر شويو ژبو ونه پوهيږو، هېڅکله د ويوونکي او اورېدونکي ترمنځ د ويلو – اورېدلو او پوهېدولو دايره نه بشپړيږي يعنې بايد پوهېدل موجود وي تر څو چې دا دايره بشپړه شي:




موږ تل په اورېدلو کې يوه موخه او هدف لرو، د بېلګې په ډول، موږ ځکه اورو چې پوه شو، معلومات مو زيات شي، په هدايا تو پوه شو، ان دا چې موږ د تفريح لپاره هم ځينې وخت له اورېدو کار اخلو، راډيو ته غوږ نيسو، هغه ځوک چې سندره وايي ورته غوږ نيسو، ځوک چې نکل تېروي غوږ ورته نيسو، چې دا وروستۍ بېلګې د تفريح لپاره د غوږ نيولو مثالونه وو. همدا رنګه موږ له بېلا بېلو خلکو سره د اشنا کېدو په خاطر د اورېدلو له مهارت څخه کار اخلو. د ښوونکو د کورنۍ د غړو، له دوستانو او نورو سره زموږ ټولې اړيکې د افکارو د تبادلې غوښتونکې دي. هره ورځ زموږ زيات شمېر وخت په ويلو او اورېدلو تېريږي. په ټولګي کې د زده کوونکي له نيمايي زيات وخت په اورېدلو تېريږي، خو موږ بيا هم دې ټکي ته زيات پام نه کوو چې ډاډه شو ايا زده کوونکو په اغېزمن ډول واورېد که نه؟ اورېدل کومه بېله موضوع نه ده، بلکې د درسي موضوعاتو يوه برخه ده او په لوست کې ډېر ارزښت لري.
څه بايد وکړو چې د زده کوونکو د اورېدلو له مهارت سره مرسته وشي؟
۱.بايد داسې يو څه وو ايو چې د اورېدو ارزښت ولري.
۲.بايد ښه درسي پلان ولرو او د زده کوونکو پاملرنه او دلچسپي په نظر کې ونيسو.
۳.بايد زده کوونکو ته دغوږ نيولو په اړه يو دليل وړاندې کړو، يعنې اورېدو ته بايد يو هدف ولرو ( د بېلګې په ډول د يو نکل له اورېدو غواړو څه زده کړو؟ ).
۴.بايد هغه څه زده کوونکو ته وو ايو ( ورواوروو ) چې هغوی په هغو د پوهېدو هيله ولري.
۵.بايد په کافي اندازه لوړې او واضحې خبرې وکړو، چې زده کوونکي يې واوري.
۶.بايد داسې کلمات وکاروو چې زده کوونکي پرې پوه شي يعنې د کوچنيانو د پوهې وړ وي.
۷.بايد په درسي ټولګي کې د اورېدو لپاره مناسبه وضعه موجوده وي:

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

الف ) له ټولګي څخه بهر غږ زوږ په ټولګي کې وانه وربدل شي.
ب ) دزده کوونکو چوکۍ باید راحت او مناسبې وي.
ج ) د ټولګي هوا نه زیاته سړه او نه زیاته ګرمه وي.
د ) ښوونکي دې هغې خواته نه دریږي، چې رڼا ورڅخه ټولګي ته رالوېږي.

دا وو د اورېدو په اړه ځینې وړاندیزونه، اوس به د دې سرچپه خبرې ته ځېر شو، یعنې وبه ګورو چې زده کوونکي ولې غوږ نه نیسي.

## د غوږ نه نیولو لاملونه:

۱.زده کوونکي د ښوونکي په خبرو نه پوهیږي.
الف ) یا دا چې د هغه غږ پوره لوړ نه دی یا دا چې واضحې خبرې نه کوي.
ب ) ممکن ښوونکي داسې کلمات وکاروي، چې زده کوونکي پرې نه پوهیږي او ښوونکي یې شرحه کوي هم نه.
ج ) ممکن هغه مفکورې چې ښوونکي یې شرحه کوي، د کوچنیانو د سویې ( د ټولګي او عمر له پلوه ) لوړې وي.
۲. زده کوونکي له موضوع سره مینه نه لري، ښوونکي پوره اندازه هڅې نه دي کړي، چې موضوع زده کوونکو ته په زړه پورې کړي.
۳. له ټولګي څخه بهر خنډیز عوامل موجود دي، لکه لوړ غږ، زوږ، یا داسې په زړه پورې شیان چې کوچنیان د هغو د لیدو لېوال وي او دهغو خواته کتل ورته په زړه پورې وي.
۴.ځینې وخت کوچنیان دنورو شیانو په اړه سوچ کې ډوب وي.
۵.زده کوونکو هماغه یوه موضوع ځو ځو ځله له ښوونکي څخه اورېدلې وي، نو ځکه یې له بیا اورېدو سره مینه نه وي.
۶.دوی همدا موضوع تېر کال په لوست کې لوستلې وي.
۷.کله چې زده کوونکي ډاډه وي، چې ښوونکی بیا هم همدا موضوع تکراوي، نو په داسې حالت کې هم له اورېدو سره ډېره مینه نه ښیي.
۸.ځینې وخت زده کوونکي بېله ځانګړې مفکوره لري او له ښوونکي سره یې عقیده یو شان نه وي.
۹.ښوونکي کوم علت او موخه ورته نه وي څرګنده کړې، چې زده کوونکي یې له اورېدو سره مینه وښیي.

## د یوه ښه اورېدونکي ځانګړنې:

۱.یو ښه اورېدونکی مودب وي او د خبرې کوونکي خبرې نه غوڅوي.
۲.ښه اورېدونکی غلی ناست وي ببځایه نه خوځیږي.
۳.ښه اورېدونکی د خبرو کوونکو د خبرو مهمه مفکوره تعقیبوي.
۴.ښه اورېدونکي د وینا په اړه له ځانه علاقه ښکاره کوي.
۵.ښه اورېدونکي ډېرې ښې پوښتنې کوي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۶. ښه اوريدونکي د ټاکلو ټکيو په اړه يو څه زيات شواهد غواړي.
۷. هغه څه چې ويل شوي څېړي يې او له حقيقت څخه لرې او مبالغه لرونکي مسايل له حقيقي مسايلو څخه په ښه ډول بېلولای شي.
د يوه ښه ښوونکي په توګه بايد په ياد ولرو چې د ټولګي دننه د نظم او نسق ساتلو لپاره بايد هېڅکله ښوونکي په لوړ غږ ناري ونه وهي، که زده کوونکي غږ زوږ جوړوي، نو ښوونکي دې ورو خبرې وکړي او هغوی دې پوه کړي، نه دا چې خپل غږ د زده کوونکو له غږ څخه هم اوچت کړي، په داسې حالت کې زده کوونکي اړ کيږي، چې غلي شي او د خپل ښوونکي غږ ته څېر شي، که تاسو زده کوونکو ته کوم نکل لولئ او هغوی شور زوږ کوي، نو ښه به وي چې کتاب وتړئ او ورته ووايئ، چې تر هغو يې نه لولي تر څو دوی غلي نه وي او غږ مو وانه وري.

## په بېلا بېلو ټولګيو کې د اوريدلو د مهارت د ښه کولو لپاره يو څو وړانديزونه

په لومړي ټولګي کې:

۱. زده کوونکي دې خپلې سترګې وتړي او غوږ دې ونيسې چې د څه شي غږ اوري.
۲. زده کوونکي دې د ښوونځي ميدان ته ووځي، څو شيبې دې غوږ ونيسي او ودې ګوري چې څو ډوله غږونه اوري ايا دا غږونه تو پيرولای شي او نومونه يې پېژني، لکه د موټر غږ، د چرګ غږ، د پسونو غږ، د لرګيو د ماتولو غږ او داسې نور.
۳. د سره ورته حروفو ( ت او د ، ب او پ او نور و ) د پېژندلو لپاره اوريدل.
۴. د يوې قافيې لرونکي کلماتو لوبه ( د بېلګې په ډول داسې کلمه ومومي چې تور او نور غږ ولري).
۵. دا لوبه چې د يوه ژوي غږ وباسي او وپوښتي چې دا د څه شي غږ و ؟
۶. د هدا ياتو څارل: ښوونکی، زده کوونکو ته وايي چې ښه ځير شي، بيا دې څو هدايات ورکړي او د دريو کارونو ترسره کول دې ورته ووايي ، زده کوونکي دې دا کارونه په هماغه ډول چې ورته ويل شوي ترسره کړي. د بېلګې په ډول: زلميه ورپرانيزه، زما له مېز څخه کتاب واخله او اخک ته يې ورکړه !
۷. هغه لوبې چې زده کوونکی يې په تفريح يا هغو ورځو کې چې اورښت وي او دوی بهر نشي وتلای نو دننه په ټولګي کې يې ترسره کوي:
الف: هر زده کوونکي ته د يوې ميوې يا يوه سابه نوم ورکړئ، بل زده کوونکی د نورو په کړۍ ( حلقه ) کې دريږي او دوه نومونه اخلي ( ګازره او انګور ) اوس نو هغه زده کوونکي، چې همدا نومونه ورته اېښودل شوي ژر له خپل ځايه پاڅيږي او بل يې پر ځای کېني، که يې دا کار په پوره چټکۍ ترسره نشو کړای او د دوی ځای هماغه زده کوونکي چې ولاړ دي ونيسي، نو هغه زده کوونکي چې نوم يې اخيستل شوی د هغه پر ځای په کړۍ کې دريږي او دوه نور نومونه اخلي، لوبه همداسې پر مخ ځي، په دې لوبه کې ليدل کيږي چې ايا زده کوونکي په ځېر کی خپل نوم ته غوږ ږدي کنه؟
ب. يوه بله لوبه چې زده کوونکو ته به په زړه پورې وي،( ځم چې خپل نيکه او انا وګورم) نوميږي. دا لوبه يو زده کوونکی داسې پيلوي: زه ځم چې خپل نيکه او انا وګورم، خپل بکس اخلي او وايي خپل د غاښو برس وړم. بل زده کوونکی هم عينې جمله تکراروي او يو څه پرې زياتوي، د بېلګې په ډول: خپل د غاښو

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

برس او بوټان ورېږ. هر زده کوونکی رومبنۍ خبرې تکراروي او يوه بله پرې زياتوي. که کوم زده کوونکی ونشي کولای هغه ټولې خبرې چې نورو کړي، تکرار کړي، ځينې يې هېرې کړې، نو دا زده کوونکی لوبه بايلي.

## له لومړنيو ټولګيو څخه په پورته ټولګيو کې د اورېدلو د مهارت د تدريس په اړه ځينې وړانديزونه:

الف: د سپورت په ساعتونو کې زده کوونکي کولای شي لاندينۍ لوبې ترسره کړي:

۱.زده کوونکي په دوو ډلو بېلېږي: دا هره يوه ډله يو د بل مخامخ درېږي، ښوونکی د يوې ډلې غړو ته جفت نمرې او بلې ډلې ته طاق نمرې ورکوي، لکه: (۲، ۴، ۶... او ۱، ۳، ۵، ۷، ۹... او نورې) بيا يوه کوچنۍ تېږه پر ميدان داسې ږدي چې دواړو ډلو ته يو شانته نږدې وي، وروسته ښوونکی يوه جفته او يوه طاق نمره وايي له دواړو ډلو يو يو زده کوونکی چې همدا نمرې ورکړل شوي ميدان ته ننوځي او هر يو هڅه کوي تېږه له ميدان څخه واخلي او ډېر ژر خپل ځای ته ستون شي، پرته له دې چې مقابل لوری يې ونيولای شي. که مقابل ګروپ هغه زده کوونکی چې تېږه يې اوچته کړې ونيسي، نو نيول شوی زده کوونکی مقابل ګروپ ته ورځي. په پای کې چې هر ګروپ د زيات شمېر غړو لرونکی وي هغه وړونکی بلل کېږي، په دې لوبه کې بايد زده کوونکي ډېر ځېر اوسي چې خپلې نومرې واوري.

ب.ښوونکی بايد خپل درسي هدايات يو ځل، ورو، خو واضح ووايي. کله چې لومړی ځل ښوونکی دا کار کوي، نو زده کوونکي ته دا ښيي چې دوی بايد ښه غوږ ونيسي، ځکه چې هغه يوازې يو ځل خپل هدايات لولي او بيا يې نه تکراروي.

ج.د اورېدلو د مهارت د ارزيابۍ لپاره ښوونکی يو لنډ پرګراف لولي او بيا له زده کوونکو د هغه په اړه پوښتنه کوي، تر څو دا ښکاره شي چې زده کوونکوددې پرګراف مهم ټکي ياد کړي کنه؟ دا ازموينه کېدای شي ليکلې بڼه يا د وينا په بڼه وي، د بېلګې په ډول دوه (ص) او (غ) سوالونه دي په دې برخه کې دي راوړل شي.

۵.کېدای شي چې يوه صنفي مناقشه په ټېپ ريکارډر کې ثبت او بيا يې زده کوونکو ته واورو، بيا زده کوونکو ته وخت ورکوو چې په دغه مناقشه کې خپل فعاليت وڅېړي.

همدا رنګه ټېپ ريکارډر د ژبې په لوست کې ګټوره وسيله ده.

هـ.د زده کوونکو له خوا په څو جملو کې د بېلا بېلو غږونو تعريف.

د بېلګې په ډول، د امبولانس يا اطفايې غږ.

د منې د باد د لګېدو غږ چې ونې خوځوي. د ماشوم ژړا.

ز.زده کوونکي هڅونکي او پاروونکي غږونه څرنګه تعريفوي، د بېلګې په ډول د ماشومانو غږ د لوبو په ترڅ کې، د ملي اتڼ د نغمې غږ، د يوې مور غږ چې ماشوم ته يې اوروي.

ح.له زده کوونکو څخه وغواړي، چې راډيو واوري، په دې برخه کې يو رپوټ جوړ او بله ورځ يې له ځان سره راوړي. که ځينې پوښتنې زده کوونکو ته ورکول کېږي، نو ښه به وي چې دوی د راډيو اورېدونکي يوه موخه ولري.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ظ- یو شمېر شفاهي هدایات زده کوونکو ته ورکړئ او وګورئ، چې دا ټول عملي کوي که نه؟ دا کار په هر ټولګي کې ممکن دی ، مثلاً وروسته تر یوه لوست د غه مناقشه ارزيابي کېدای شي:
ایا زده کوونکي په خبرو کولو کې نوبت رعایتوي؟ ایا مودبانه یې یو بل ته غوږ نیوه؟ ایا منطقي پوښتنې یې کولې؟ ایا ټولو غوښتل یو ځل خبرې وکړي او دا سې نور.
موږ نشو کولای د اورېدو مهارت، لکه څرنګه چې ښایي ارزيابي کړو ، تر څو چې یو پرګراف زده کوونکو ته ونه لولو بیا ورپسې په دې اړه پوښتنې وکړو. د زده کوونکو له کتنې ښکاري چې دوی څومره په ځان کې د اورېدو مهارت روزلی؟ ځکه ددې عادت وده د دوی په زده کړه کې ارزښت لري. په پای کې باید ووایو چې ښوونکي هم باید د اورېدو ډېر ښه عادت ولري. هغوی باید زده کوونکو ته داسې ونه ښيي چې ګواکې ډېر بوخت دي او د هغوی د خبرو د اورېدو وخت نه لري چې زده کوونکي یې غواړي هغه ووایي او خپل ښوونکي ته یې واوروي. همدارنګه باید ښوونکي له خپلو زده کوونکو سره په دې اړه هم مرسته وکړي چې هغوی د غږونو له نړۍ خبر کاندي. زده کوونکي له موزيک څخه خوند واخلي او په زده کړه کې د اورېدلو له ارزښت څخه برخمن او با خبره شي او په پای کې باید ښوونکي، زده کوونکي هغو تجربو او فعالیتونو ته رهنمايي او وهڅوي، چې د اورېدو او د نورو اموزشي لارو چارو په برخه کې د تنقيدي طرز تفکر غوښتنه کوي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# دریېم څپرکی

## ژبښوونه

الف: ژبښوونه په لومړنيو ټولګيو کې:
د پوهنې وزارت د لومړنيو زده کړو پروګرام جوتوي، چې د لومړي ټولګي ټول تدريسي فعاليت ليکل او لوستل دي.(۱ ماده، ۷مخ).
لومړی ټولګی په حقيقت کې په ښوونځيو کې يو ډېر مهم ټولګی دی، نو ځکه بايد ډېر ښه او تکړه ښوونکي دغه ټولګي کې درس ته وګومارل شي. دلته زده کوونکي ليک – لوست زده کوي، دلته زده کوونکي د خپلې ښوونې او روزنې د راتلونکې ودانۍ بنسټ ږدي. البته مورږ پوهېږو چې د لوست په اړه مورږ ډېرې ستونزې لرو، زيات شمېر لوی زده کوونکي ګورو چې د لوست پر وخت خپله ګوته پر کرښو کاږي، يا د لوست پر وخت خپلې شونډې خوځوي ددې لامل څه دی او ولې زيات شمېر وګړي په ګړندۍ او چټکه توګه ليک نشي لوستلای، څرنګه کولای شو ښه لوستونکي وروزو؟ کومه نيمګړتيا چې همدا اوس د لومړيو ټولګيو د لوست په کتابونو کې شته هغه د لوست په برخه کې د ستونزو لامل ده، د بېلګې په ډول که مورږ د خپلو لومړيو ټولګيو کتابونه د امريکا د لومړيو ټولګيو له کتابونو سره پر تله کړو، ليدل کيږي چې په امريکايي کتابونو کې د نويو کلماتو شمېر په منځني ډول ( ۳ ) او زمورږ د لومړي ټولګي د کتاب په پاڼه کې د نويو کلمو شمېر ۲۰ ته رسيږي. د امريکا د دوهمو ټولګيو په يوه پاڼه کې د نويو کلمو شمېر په منځني ډول ۲،۷ دی او زمورږ د کتابونو په هره يوه پاڼه کې ۳۸ نوي لغتونه دي. د امريکا د لومړي ټولګي د کتاب د پاڼو شمېر ډېر زيات دی، ځکه چې په هغه کې تکرار او مذاکرات زيات په پام کې ساتل

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

شوي. په یوه څېړنه کې څرګند شول چې په دې برخه کې له اسانه لغاتو څخه د پېچلو لغاتو خوا ته کومه لړۍ او پوړۍ په پام کې نده نیول شوې، زیات شمېر لغات یو یا دوه ځله راغلي، په یوه لازم ډول نه دي تکرار شوي، ددغو کتابونو زیات شمېر لغات په کوچنیانو کې نه دي دود. د بېلګې په ډول د لومړي ټولګي د کتاب په لومړۍ پاڼه کې هغه لغات راغلي چې ډېر لږ معمول دي. د دوهم ټولګي کتاب په (۱) مخ کې د مولی، مخلوق، ادنی، اعلی، لایق، فقرا او داسې نور لغات راغلي، چې دا هم د دوهم ټولګي له سویې پورته دي(۱).

د لومړیو ټولګیو د لیکلو او لوست ډول باید د ماشومانو او کوچنیو زده کوونکو له روحیاتو سره برابر غوره شي، لومړنی لیکل او لوست باید له ساده جملو څخه پیل شي، ورپسې ترکیبي او تحلیلي پر مخ ولاړ شي (**۲**ماده، **۷**مخ).

دلته مو وویل چې باید لیک لوست له ساده لغاتو او جملو څخه د پېچلو اومرکبو جملو او لغاتو پر خوا ولاړ شي، دا کار له موجودو کتابونو سره کېدونکی نه دی،خو دا چې کوم ښوونکی پوره اندازه نور مرستندوی درسي مواد ولري. په پیل کې فلش کارډونه ډېر ګټور دي، ښوونکی دا کارډونه جوړوي او ځینې کلمې په پنډ لیک پرې لیکي، که ښوونکی په انځور کښلو کې ماهر وي، کېدای شي د کارډ پر بل مخ رسم ( انځور ) هم وکاږي، چې هماغه کلمه افاده کړي، که دا له ډبلې قطعې یاله ډبل کاغذ څخه جوړ شي د څو کالو لپاره دوام کولای شي او په قوطیو کې ساتل کېدای شي. ښوونکی کولای شي ساده جملې پر توره تخته ولیکي او په هغو کې د نوي لوست نوي لغات وښیي، په دې ډول زده کوونکي کولای شي چې ښه تکرار وکړي، پخواني لغاتونه په یاد کې وساتي او بیا نوي لغات زده کړي، بې ځایه تکرار یوازې وخت ضایع کوي، تکرار باید له دقت او پوره څېرتیا سره وي، ځکه دقت اغېزمن واقع کیږي (**۱۴**ماده، **۹** مخ).

که کلمات او لغات په بېلا بېلو شکلونو کې زده کوونکو ته وښودل شي ډېره ګټه لري، د بېلګې په توګه هم کارد کې هم کتاب او هم عادي کاغذ او هم پر تخته، نو په دې وخت کې ډاډ مومو چې زده کوونکو ددغو کلماتو حقیقت درک کړی. په زیات شمېر ښوونځیو کې لیدل کیږي، چې زده کوونکي د کتاب کلمات په خپل ښوونکي پسې چې هغه یې قرائت کوي د وچ تکرار په بڼه لولي، بیا هم د خپل ټولګي له بل زده کوونکي اوري او همدا عمل څو څو ځله تکراریږي تر هغو چې هماغه مخ له یاده زده کړي، پرته له دې چې په معنا یې پوه وي. په دغه ډول زده کوونکو کې د دقت او پام کولو بد عادت روزل کیږي. د کلمو پر مفهوم تاکید کول ډېر ضرور دي، کله چې نوې کلمې په لوست کې راځي، ښوونکي د هغو معناوې له زده کوونکو څخه پوښتي او هغه نوې جملې چې هماغه کلمه پکې راغلې وي پکار وي. ممکن ښوونکی له زده کوونکو څخه داهیله وکړي چې نوې کلمې پخپله په جملو کې وکاروي دا د دې مانا لري چې ایا زده کوونکي د نویو لغاتو په مانا او کارولو پوه شوي که نه؟

---

(۱) په دې پرتلنه کې د افغانستان د لومړیو ټولګیو د بېلا بېلو دورو کتابونو وکتل شول او پورته ذکر شوې بېلګه د سویډن د موسسې له خوا پر **۱۳۷۲**کال له خپرو شویو درسي کتابونو څخه غوره شوي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

لیک – لوست دواړه یو ځلې زده کیږي، دا چې زده کوونکي نوې کلمې لولي، نو هغه لیکي هم. څرنګه چې یو نوی لغت په لیکنه کې ګوري او لولي یې، نو په دې پوهیږي چې دغه نوی لغت چېرې او څرنګه کارول کیږي او له کومو حروفو څخه جوړ دی.

په لومړي ټولګي کې درس او لوست ورکول د شیانو او سمبولونو ( علامو ) په اړیکو ډېر تاکید کوي، یعنې هغه علامې او سمبولونه چې له یوه شي څخه نمایندګي کوي د ( اس ) کلمه په حقیقت کې یو سمبول دی، چې پخپله له اس سره هېڅ ورته والی نه لري.

خو موږ تل دا سمبول کارولی او د هغه په اورېدو داسې ( ژوی ) څېره ذهن ته را تداعي کیږي کله چې زده کوونکي دا لغت زده کړي، نو پوهیږي چې مانا یې یو ډول ځاروی دی.

له لوست څخه موخه او مقصد په هغو شیانو پوهېدل دي، چې لیکل شوي، نو ځکه باید د لومړي ټولګي زده کوونکي د کلماتو له پېژندلو پرته چې په جملو کې راغلي، د هغو پر مانا هم وپوهول شي او د هغې د بڼې په لیدو یې په مانا پوه شي او د کلمې مانا اخیستل باید د زده کوونکو عادت وګرځي (۱ماده، ۱۰مخ).

ښوونکي دې زده کوونکو ته دا وخت ورکړي چې جملې څو څو ځله وګوري چې بل ځل سم له لیدو سره هغه وپېژني، ښوونکی پر تختې لیکلو ، په دیتو کاغذ د چاپولو ، په فلش کارډونو لیکلو او نورو لارو دا موخه ترلاسه کولای شي. هغه کلمې چې زیاتې کارول کیږي باید څو څو ځله تکرار شي، دا کاز زده کوونکي د اعلاناتو له تختې، فلش کارډ ، اخبار ، د ټولګي د تورې تختې او د نورو له مخې زده کوي. هغه کلمې چې نوې زده کوونکي ته ور ښودل کیږي، باید د هغو مانا زده کوونکي ته ور وپوهول شي. په ورځني ژوند کې موږ ځینې کلمات او اثار په لوړ غږ لولو ، ځینې په ورو له ځان سره لولو. هغه ډېر معمول لوستل چې موږ یې کوو همدا ورو او بې غږه لوستل دي، نو ښوونکی دې زده کوونکي په ښوونځي کې په دواړو ورو زې هم په لوړ غږ لوستل او هم په ورو لوستل. ذکر شوې موضوع ډېره ضروري ده ځکه وروسته وروسته وګړي اړ دي چې ورو مطالعه وکړي او له لیکلي پراګراف څخه مانا واخلي، لکه د اخبار او مجلو لوستل، نو زده کونکي باید په ورو ( خموشانه ) لوست هم روږدی شي. دلته د بېلګې په ډول د سویډن کومېټې د دوهم ټولګي لپاره د پښتو د قرائت د (۳۰) مخ لوست چې د باغ تر سرلیک لاندې دی را اخلو ، درسي پلان داسې پرمخ بوځي:

۱- نوې لوست ته د زده کوونکو مینه راوپاروي، زده کوونکي وهڅوي چې د ۳۰ مخ انځور ته په غور ځېر شي او د هغه په اړه مناقشه وکړي. په انځور کې څه ګوري؟

کوم ډول ونې او سابه لیدل کیږي ... څو پوښتنې وکړي او دوی د باغ په اړه سوچ کولو ته وهڅوي، په دې ډول د ساینس موضوع هم د قرائت په لوست کې راتلای شي، په انځور کې د کال کوم وخت ښکاري؟ ولې اوړی پکې ښودل شوی؟ په اوړي کې هوا څنګه وي؟ په اوړي کې څه اغوندو ... البته دا هڅونه دې صرف څو شېبې وخت ونیسي.

۲- بیا لوست ادامه پیدا کوي او بیا د نویو لغاتو پېژندنه راځي . په مناقشه کې زده کوونکي د روغتیا ، نارنج، پالنه او نورې دا ډول کلمې چې ممکن نوې وي تکرا یږي، بیا همدا لغات پر تخته ولیکي، ممکن ددې لپاره فلش کارډونه وکارول شي، څو داسې جملې چې همدا لغات پکې راغلي وي او ور لاندې کرښه وکاږي، ممکن ښوونکی د باغ یو څو نور انځورونه هم راوړي، بیا له زده کوونکو وغواړي چې دوی خپله

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ځيني نوې جملې جوړې کړي، په دې ډول د ذکر شويو نويو لغاتو مانا د زده کوونکوپه ذهن کې کيني ،مثلاً دا باغ دی ، که کومه ونه وچه شوې وي د هغې پر ځای نوي نيالګۍ کينوي، باغونه - ډېره پالنه غواړي... او داسې نور(۱)
يوه نوې کلمه غوره کړئ او له زده کوونکو څخه وغواړئ، چې هغه ولولي، نور دې هم هغه تکرار کړي. دا کار د ټولو نويو لغاتو په اړه وکړي، نوې جملې په تخته هم تکرار کړئ.
**۳.** په درېيم ګام کې د اوار ( خموشانه ) لوست هدايت ورکړئ، د بېلګې په ډول له زده کونکو څخه هيله وکړئ چې ۳۰-۳۱ مخونه له ځان سره ورو ووايي او د هغې پر مطلب باندې ځان پوه کړي.
**۴.** په څلورم ګام کې زده کوونکو ته دنده وسپارئ، چې همدا لوست پرته د شونډو له خوځولو او د ګوتو له حرکت او د کرښې له تعقيبولو ولولي يعنې په سترګو يې ولولي او کلمې دې نه تلفظوي . کله چې زده کوونکي هر يو خپل لوست پای ته رسوي ارام دې کېني چې نور يې هم پای ته ورسوي.
**۵.** و دې ګوري چې زده کوونکو له هغه څه څخه چې تاسو ورنه پوښتنه کړې وه څه زده کړل، د باغ په اړه په څه پوه شوي، دوی به د ځواب ورکولو لپاره لاس اوچت او په وار به خبرې کوي، دا به ښکاره شي چې رښتيا هم دوی لوست زده کړی دی ؟
**۶.** په لوړ غږ لوست - په شپږم ګام کې ښوونکی دا څېړي چې د زده کوونکو څومره د لوست مهارت ښه شوی.
**۷.** زده کوونکو ته وخت ورکړي چې لوستل شوی لوست په ليکلو تمرين کړي، ممکن زده کوونکي نوي لغات پخپله کتابچه کې يادښت کړي او له تختې څخه جملې په کتابچه کې وليکي دا ټول کارونه ګټور او د درسي پلان اجزا دي.
**۸.** مذاکره - په راتلونکې ورځ کې د تير درس کلمات مذاکره کړي او وګوري چې د پرون لوست کلمات د دوی په ذهن کې پاتې دي او پرونی لوست له نوي لوست څخه مخکې ځغلنده تکرار کړي.
په عمومي ډول پورته پلان يو ښه پلان دی، لاندې موږ د يوه ښه لوست پلان ذکر کوو.
**۱.** د زده کوونکو د علاقې جلبول.
**۲.** په بېلا بېلو بڼو د نويو لغاتو او جملو راوړل او ليکل.
**۳.** د لوست ورو او خاموشانه لوست.
**۴.** په زده کوونکو د نوي لوست لوستل پرته د شونډو له حرکت څخه.
**۵.** له زده کوونکو څخه ځينې پوښتنې کول چې رښتيا هم په لوست پوه دي که نه؟
**۶.** په لوړ غږ د لوست تکرارول.
**۷.** په راتلونکې ورځ کې د پرونی لوست تکرار.
لکه څرنګه چې وکتل شول ښوونکی دې هېڅکله په لوړ غږ لوست زده کوونکو ته نه لولي او تر هغو پورې چې زده کوونکي ورو نوی لوست ونه لولي په لوړ غږ د نوي لوست ويلو اجازه نشته، که په نوي لوست کې پېچلي لغات او جملې وي، نو ښوونکی هغه د پورته پلان په دوهم پړاو کې حل کوي، نو ځکه په لوړ غږ

---

(۱) دلته د بېلګې لپاره د پښتو لوست د دوهم ټولګي درسي کتاب (۳۰-۳۱) مخونه، غوره شول تر څو موضوع روښانه شوې وي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

سره لوستلو ته کوم دلیل نشته . که ښوونکی پخپله لوست په غږ سره لولي او زده کوونکي د ګوتو په حرکت یا د سترګو په واسطه هغه ورسره تعقیبوي، د هغوی ټوله مینه او پاملرنه له منځه ځي. په دې ډول دوی د لوست په مانا اومفهوم هم نه پوهیږي، خو که ښوونکی غواړي د لغاتو تلفظ اصلاح کړي په پای کې کولای شي مربوطه جملې په لوړ غږ هم ولولي.
استثنأ:
صرف په پورته پلان کې منظومې توپیر لري، چې دا ښوونکي په لوړ غږ لوستلای شي ځکه په شعر کې ځینې کلمې شته چې پېچلې وي، تلفظ یې مشکل وي او په لوړ غږ د هغو لوستل د هغو ادبي ښکلا هم زیاته او د پاملرنې وړ ګرځوي او موزون کلام نور هم خیال انګېز او ښکلی کیږي، خو که ښوونکی د ښه غږ لرونکی او په ښه شکل یې ولولي، نو زده کوونکي ډېر هڅیږي او دا کوښښ کوي چې شعر او منظومه هماغه ډول ولولي او په پای کې له ادب سره مینه پیدا کوي او د نورو اشعارو او منظومو په لوستلو هم پیل کو

# څلورم څپرکی

# لیکل

د لیکلو فعالیت د مورنۍ ژبې په هماغه لومړني لوست کې پیلیږي. زده کوونکي د کلماتو لیکنه پر تخته وینې او له لیکلو سره اشنا کیږي. په پیل کې زده کوونکي ممکن لیک په هوا په ګوته یا د لاس په اشاره ولیکي، ممکن لیکنه پر میز ولیکي یا عیناً یې انځور کړي چې دا انځورول د بشپړ لیک مانا نه لري، وروسته زده کوونکو ته دنده ورکول کیږي، چې زده کړی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي، څه موده وروسته ښوونکی ساده کلمې د املا په بڼه ورته وایي، ورو ورو دوی لیکل زده کوي، همدارنګه کورنۍ دندې ورکول کیږي چې د دوی د لیکلو مهارت لوړوي. د پوهنې وازرت پروګرام د لیکلو په اړه زیات شمېر مطالب لري ان دا چې د حسن خط مضمون ته پکې ځای ورکړل شوی. زده کوونکي باید دا وړتیا ومومي چې د لوست وړ واضح او ښه خط په اسانۍ سره ولیکلای شي او لیک یې پوخ او ښکلی وي (الف ماده، ۲۰ مخ).
ښوونکی باید تل هڅه وکړي چې تر ممکنه حده پر تخته ښکلی او د لوستل کېدو وړ لیک وکړي، ځینې وخت په خط کش سره د تختې په څنډه کې د کوچنیو کرښو ایستل د لیک په ښکلي کولو کې مرسته کوي، زده کوونکي د ښوونکي لیک ځان ته یوه بېلګه بولي او د هغه له مخې یې زده کوي، نو ځکه باید ښوونکی ډېر ښکلی خط ولري او لیک یې پوخ وي، کله چې زده کوونکي دې حد ته ورسیږي چې پخپله وکولای شي

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کلمات ګډ کړي، جملې ور نه جوړې کړي، نو دوی باید د نکلونو په لیکلو پیل وکړي او له خپله ځانه مقالې او پروګرامونه ولیکي، نه دا چې صرف د ښوونکي پر املا بسنه وشي. د لومړنۍ دورې په پای کې باید زده کوونکي د لیک برخه کې پوره مهارت ولري او په اسانۍ او چټکۍ لیک ولیکلی شي.

زموږ موخه داده چې زده کوونکي دې لیک لیکل په هماغه بڼه چې لویان ورته اړتیا لري زده کړي، دوی باید دوستانو او خپلوانو ته لیک ولیکلای شي، پر پاکټ یې پته ولیکلای شي، فورمې ډکې کړای شي، عرض پاڼه، حواله، رسید او ساده یادښتونه ولیکلای شي.

## لومړی ټولګی:

په لومړي ټولګي کې د زده کوونکو د لاسونو عضلو هومره چې اړ دي وده نه وي کړي، نو په ښکلي او پوخ لیک د کلماتو لیکل ورته ګران وي، نو ښه به وي دوی ته لږ څه پنډ پنسلونه او داسې کاغذ، چې لیکي یې سره لرې وي ورکړل شي، چې حروف لږ څه لوی او په اسانۍ ورباندې ولیکلای شي. تر لیکلو مخکې زده کوونکي یو شمېر لاربښوونو ته اړ وي: که زده کوونکو د وړکتون یوه دوره تېره کړې وي، نو هلته یې په رنګه پنسل رنګول زده وي او یو شمېر انځورونه رسمولای شي دا د ګوتو په کارولو د قلم نیولو او په نورو مهارتونو کې مرسته کوي. په پیل کې ممکن زده کوونکي حروف په هوا کې صرف انځور کړي او پنسل په لیکنه وڅرخوي، ممکن په خاورو او شګو یې ولیکي، پر تخته هم لیکل وکړي، نو دا ټولې لیکنې د دوی لومړنۍ لیکنې او د انځورونو بڼه لري، په ښه ډول لیکل ورته ګران دي، نو ښوونکی باید د زده کوونکي استعداد ته ځیر وي، ځکه د یوه شخص استعداد د هغه د کار په پرمختګ کې ډېر اغېزمن وي، ښوونکی چې په لیکلو او غلط لیکلو کې مرسته کوي او اصلاح کوي یې، زده کوونکي مینه ښیي چې څه ولیکي چې ده ته مفهوم ولري، لکه دده خپل نوم. که دی اړ اېستل شي چې زیات شمېر حروف نقل (کاپي) کړي، نو د لیکلو په برخه کې یې مینه کمیږي، ځکه دی هغه څه غواړي چې ده ته مفهوم ولري، دی ډېر مشق او تمرین ته هم اړ دی، چې دا ټول باید په پام کې ونیول شي. لیکل په تمرین او د زده کوونکو په ودې ښه کیږي او پر مخ ځي، لیکل یو د ځنډ مهارت دی، دا په یوه اونۍ، یوه میاشت ان په یوه کال کې نه زده کیږي. اروا پوهان وایي چې کیڼ لاسي زده کوونکي په زور هرومرو په ښي لاس باندې لیکلو ته مه اړ باسئ، ځکه د لیک د ځنډني او خنډني ډک پړاو لامل ګرځي ان دا چې ممکن زده کوونکي د ژبې له ستونزې سره مخامخ شي، لکه ژبه بندېدل یا د ژبې لکنت (د ژبې ګوډتیا)، خو ورو ورو دې وهڅول شي چې له ښي لاس څخه کار واخلي دا یې په ګټه ده، ځکه چې ډېر شمېر سامانونه د ښي لاسو خلکو لپاره جوړ شوي، چې په کیڼ لاس نشي نیول کېدای، که زده کوونکي کیڼ لاسي وي، نو کاغذ باید کینې خواته وربېب (مایل) ونیسي، نو ښوونکي دې وګوري چې هغه په صحیح ډول ږدي او کنه؟

## په لیکلو کې ځینې د پام وړ ځانګړتیاوې:

۱ـ باید ټول حروف په لیکلو کې په یوه بڼه (متحد الشکل) وي.

۲ـ وضاحت: لیکنه باید واضحه وي.

۳ـ لیک باید صفا او ښکلی وي.

۴ـ چټکوالی او اساني پکې وي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

باید په یاد ولرو چې لیکل هغه وسیله ده چې یو وګړی خپله مفکوره او عقیده د هغه په وسیله نورو ته بیانوي، نو که د لیکلو طرز ډېر ښه وي زده کوونکي له هغه سره ډېره مینه ښیي، نو کله چې مینه او دلچسپي وي، هغه ډېر ژر او ښه زده کیږي.

پهلومړیو او دوهمو ټولګیو کې د لیکلو دمهارت وده او دهغې لارې چارې:

باید لیکلو ته د زده کوونکو مینه وپاروله شي، له زده کوونکو سره باید مرسته وشي چې د خپل نوم لیکل زده کړي، هغه په خپل میز ولیکي، د خپل کتاب پر پوښ یې ولیکي، په هغه کوټ بند یې ولیکي، چې خپلې جامې پرې زړوي او د هغه انځور لاندې چې ده کښلی خپل نوم ولیکي... ښوونکی باید هغه اړتیاوې چې موږ لیکلو ته اړ یو زده کوونکو ته وښیي تر څو زده کوونکي د لیک په اړتیا او موخه پوه شي. د ښېلګې په توګه ځینې مهم خبرونه دې پر تخته ولیکي، د ورځې نېټه دې ولیکي، د نورو زده کوونکو نومونه دې ولیکي، د لایقو زده کوونکو نومونه دې ولیکي او بیا دې زده کوونکي د هغو لوستلو ته راوبولي، باید له زده کوونکو سره مرسته وشي هغه ستونزې چې په لیکلو کې لري حل او لرې شي، ښوونکی باید د هغوی ستونزې وپېژني او په خپله شخصاً هغه حل کړي او له هغوی سره دې مرسته وشي چې املايي کلمې او جملې جوړې او ښې ولیکي، نوي لغات ولیکلای شي او خپله مفکوره ولیکلای شي. دوی باید ودې ته چمتو شي. هغوی ته دې وښودل شي چې سم کیني، لږ څه دې مخ خوا ته ځان کوږ کړي بیا دې لیکنه پیل کړي، دومره دې هم نه کږوییږي چې پزه یې پر پنسل یا کاغذ ولګیږي، خپلې څنګلې دې پر مېز کېږدي، خپل رنګ دي ځان ته نږدې کېږدي، چې هغه ورنه چپه نشي، کاغذ دې ډېر ښه مخې ته کېږدي او داسې نورې مرستې او لارښوونې. په هره اونۍ کې دې یو ځانګړی وخت لیک ته وټاکل شي چې ښکلی، چټک او واضح لیک پکې زده شي، زیات لیدل شوي چې زده کوونکي د لیکلو په برخه کې خپلې کورنۍ دندې پر مخ نه بیایي، د هغوی املايي غلطۍ نه اصلاح کیږي او د لیک ښکلا ته پام نه ساتل کیږي، نو تر هغو چې د لیک لپاره بېل وخت ونه ټاکل شي، یوازې د قرائت، تاریخ، جغرافیې، املا او د نورو مضامینو په وخت کې نشي زده کېدای او نه وده موندلای شي.

لنډیز:

۱ـ لیکل باید له داسې حالت څخه پیل شي چې زده کوونکي ته هدف او مفهوم ولري، لکه پر انځور کړي رسم باندې یې د نوم لیکل.

۲ـ زده کوونکي باید د لیکلو له مشق او تمرین څخه مخکې په تحریري بڼه بلد شي، د ښوونځي په لومړیو ورځو کې ښوونکي کولای شي چې د میاشتو نومونه زده کوونکو ته ولیکي، د زده کوونکو نمونه ولیکي، د هغو کارونو لیکلړ پر تخته ولیکي، چې په هغه ورځ باید ترسره شي، ځکه چې زده کوونکي باید په دې پوه شي چې د ښوونکي لیکل شوې کرښې مانا لري او هره لیکنه یوه مانا لري او کرښې او لیکنه په حقیقت کې علامې دي.

۳ـ په لومړیو وختو کې له زده کوونکو څخه د بریالیتوب ډېره هیله نشي کېدای، هغوی ته باید لومړی وخت ورکړل شي چې صرف د تختې له مخې د ښوونکي لیکنې نقل (کاپي) کړي، ځینې زده کوونکي د نورو پر تله په چټکۍ پرمخ ځي، خو ښوونکي باید له فردي توپیرونو خبر وي.

۴ـ زده کوونکي باید وهڅول شي چې له خپله ځانه لنډ نکلونه ولیکي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۵. باید له هرې لارې ګټه واخیستل شي او زده کوونکو ته حروف ور وپېژندل شي، لکه لیدل، تعقیبول د کرښو، تلفظ، په ګوته یا په قلم پر کاغذ د حرف تعقیب، له اواز سره لیک، له کلمې سره پر تله کول او داسې نور او بیا هره نوې کلمه تر هغو په زده کوونکو تکراراً تلفظ او ولیکل شي چې ډاډه شو پرته له دې چې اصل موډل ته وګوري هغه له یاده لیکلای شي.
۶. په یوه اونۍ کې باید بېلا بېل وختونه د لیک لپاره بېل کړای شي او په هر لوست کې چې د هر مضمون وي د لیک ښکلې کولو ته پاملرنه وشي.
۷. د زده کوونکو د لیک د لیکنې پر وخت باید د لیکلو کرښو، فاصله، وضاحت، ښکلا، تنظیم او نورو ته پام وشي.
د دغو ټولو پورته ذکر شویو اصولو او اړونو د ښه ترسره کولو لپاره د بېلګې لپاره د افغانستان لپاره د سویډن کومېټې له خوا خپاره شوي د لومړي، دوهم او درېیمو ټولګیو د لوست کتابونو د لمن لیکونو تمرینونه، هدایات او یادښتونه، چې زیات شمېر یې د ښوونکو لپاره هم دي ډېر ګټور بولو، هغه دې ټول په پام کې ونیسي. پر زده کوونکو دې تطبیق او له نوي درس څخه مخکې دې د هغه د اجرا ډاډ ترلاسه شي.

# پېنځم څپرکی

## په لومړینو ټولګیو کې د خبرو او افادې قوه

ښوونکی باید ددې خبرې په ارزښت ښه پوه وي، چې زده کوونکو ته باید له هماغه لومړي ټولګي څخه د نظر څرګندولو، خبرې کولو او موخو ښودلو وخت ورکړل شي، ځکه له هغه څخه ښوونځي ته له راتګ څخه څلور کاله مخکې هر وخت د خبرې کولو هېله شوې، خو اوس اړ کیږي چې په ټولګي کې غلی کیني، نو دا ورته دروند تمامیږي، هغوی اړتیا لري چې خبرې وکړي او خپل نظریات څرګند کړي. یو ښه ښوونکی له هماغه لومړي ټولګي څخه زده کوونکي په دې روږدي کوي، چې مخکې له خبرې کولو خپل لاس اوچت کړي او اجازه واخلي، د خبرو په پر مهال دې نوبت په پام کې ولري، د بل د خبرو پر وخت باید په درناوي خبرو ته غوږ ونیسي. یو بد میلان چې ان په لویانو کې لیدل کیږي دادی، چې غواړي ټول په یوه وخت کې خبرې وکړي او هر یو غواړي له بل څخه په لا لوړ غږ خبرې وکړي، دا کار په ټولګي کې د ننه دمناقشاتو پروګرام له ستونزو سره مخامخولای شي، خو منظم مناقشات د ډېرې ښې روزنې بنسټ جوړوي، هېڅ جرګه، غونډه او مجلس تر هغو نشي جوړېدای تر څو د خبرو نوبت په پام کې ونه نیول شي، ښوونکی دې د

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکو اړتیا خبرو کولو ته په پام کې ولري او دغې اړتیا ته ځواب ووایي او تسکین ورکړي، یعنې یوه موضوع غوره شي بیا دې زده کوونکي د هغې په اړه خبرو او مناقشې ته په نوبت وبلل شي او زده کوونکي دې وهڅول شي، چې د افادې قوه ښه وروزي، مناسبې کلمې وکاروي او په طبیعي بڼه خبرې وکړي، هڅه دې وشي چې د زده کوونکو خبرې غوڅې نه کړو. ځینې ښوونکي ټول لیک لوست زده کړي او ښوونه روزنه صرف د درسي قرائت او کتاب متن پورې تړي، دوی صنفي مناقشې ته نه وخت ورکوي او نه ارزښت ورکوي، یوازې کتاب په زده کوونکو حفظوي، هغوی وېره لري چې د زده کوونکو پوښتنو ته به ځواب ونشي ویلای، نو ښوونکی باید په پرلپسې ډول مطالعه وکړي چې له ورځنیو پېښو ځخه خبر وي، که ښوونکی سره له دې هم کومې پوښتنې ته بې ځوابه شو، نو په صداقت او صراحت دې ووایي چې نه پوهېږم، خو بله ورځ به معلومات حاصل او ځواب راوړم او دادې وښیي چې په نړۍ کې هېڅوک په ټولو خبرو نه پوهیږي، ان دا چې زده کونکي دې ټول دغې پوښتنې ته راووبولي او ورته دې وایي چې دا خو ښه پوښتنه ده او د کورنۍ دندې په ډول دې هغوی ته وسپاري، مقصد دا چې د زده کوونکو د پلټنو او کنجکاوۍ حس باید وپارول شي، ځینې وخت ځینې پوښتنې ځو ځو ځوابونه لرلای شي او ممکن هر زده کوونکی یې په بېلې بېلې نظریې وړاندې کړي، نو زده کوونکو ته دې وښودل شي چې هر څوک حق لري د یوې موضوع په اړه بېلا بېل نظرونه ورکړي دا د ښې روزنې یو بل ار دی، خو شرط دادی چې له موضوع ځخه بهر نه شي او په بې ارزښته خبرو وخت ضایع نه کړي، دا ډول زده کول او تجربې د زده کوونکو په راتلونکي ژوند کې غوره اغېزه لري.

## په لوړو ټولګیو کې افاده او خبرې کول :

لکه چې وویل شول په لومړنیو ټولګیو کې مهم هدف دادی چې:

۱ـ د زده کوونکو چمتو کول دې ته چې په لیکلي یا شفاهي نظریاتو او مفکورو باندې ښه پوه شي او هغه بېرته ښه افاده کړای شي.

۲ـ دوی وکولای شي پر هغه څه چې پوه دي هغه نورو ته یا افاده کړي یا یې ولیکي.

۳ـ زده کوونکو ته مورنۍ ژبه ګرانول او له هغې سره مینه پیدا کېدل، له مطالعې او لوست سره د هغوی د مینې راپارول او د کتابونو، مجلو او اخبارونو لوستلو ته هڅول.

۴ـ د مورنۍ ژبې د وییونو په مانا پوهول، د لیک لوست ښه والی، د هغوی د لغاتو د ذخیرې زیاتول او د ژبې بډایول.

مورږ باید په ښوونه او روزنه کې خپل راتلونکي اهداف او موخې په پام کې ونیسو، د بېلګې په ډول دا باید له مورږ سره مطرح وي، چې ایا زده کوونکي به مثلاً شل کاله وروسته زموږ له درس ځخه څه ګټه واخلي؟ هغه باید لیک او لوست و کولای شي، د خپل هېواد د پرمختګ، حکومتي چارو او نورو مسلو په اړه ډېر ښه وپوهیږي. دوی باید په دې وتوانیږي چې خپلې مفکورې په ښه ډول ارایه کړای شي، نو ځکه نن ورځ موږ هغه څه ورته ښایو چې –باورته اړ دي.

اوس به را شو د لوړو ټولګیو په اړه: سره له دې چې دلته زده کونکو لیک لوست زده کړی وي، خو په پوره ډول نه وي، که ددغو ټولګیو ښوونکو مسلکي روزنه نه وي ترلاسه کړي، امکان لري زیات شمېر زده کوونکي لوست د توتي په شان میخانیک ضبط او یاد کړي پرته له دې چې په مفهوم یې پوه شي، په تېره

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

چې د دغوټولګیو مضامین زیات شمېر یې مهم دي، لکه : ساینسي مضامین ( کیمیا، ریاضی، بیولوژی.. ) ټولنیز مضامین، لکه: ( تاریخ، جغرافیه او نور ) دي . دوی ان دا چې ممکن تر اوسه لا د لوست پر وخت ګوته پر کړښه کاږي او د شونډو په خوځولو په لوړ غږ کړښې ولولي، چې دا ناوړه عادت دی. که وغواړو دا ډول زده کوونکي چې اوس لوی لوی هلکان او نجونې دي او موږ ورسره مرسته کوو، نو باید له دوی څخه داسې ماهر لوستونکي جوړ کړو چې د لوست پر وخت مفهوم او مانا ترلاسه کړي ، نو لومړی به دوی لوست ته وهڅوو چې د مانا اخیستو په برخه کې د دوی علاقه او دلچسپي را پیدا شي، دلته د زده کوونکو د معلوماتو افق پراخیږي، دوی دا وخت د دنیا د براعظمونو په اړه کتابونه لولي، نو کله چې دوی غواړي د نړۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي، علاقه یې نوره هم زیاتیږي، چې د نورو هېوادونو او نورو خلکو په اړه پوه شي ، لوست یوازې د پښتو او دري ژبې لوست نه دی، بلکې نورمضامین هم د ښوونې او روزنې مهمه برخه جوړوي، چې د دغو مضامینو د مطالعې ساحل، اسباب او وسایل هم سره توپیر کوي.

د بېلګې په ډول د هر یوه مضمون په اړه لاندې بېلا بېل فعالیتونه ترسره کېدای شي:

| جغرافیه | تاریخ | ساینس |
|---|---|---|
| دنقشې مطالعه | د موزیمونو کتنه | مطالعاتي راپورونه او لیکل |
| دنقشو جوړول | مطالعاتي راپورونه | تجربې ترسره کول |
| د ګرافونو رسمول | دمشهورو خلکو ژوند لیک کتل | نمایشات |
| د چارټونو جوړول | تاریخي ګراف جوړول او نور | لابراتوارونه |
| د راپورونو لیکل او نور | | د علمي تجربو د یاداشت کتابچې |

په لوړو ټولګیو کې اکثراً لوست په ګروپي بڼه نه وي، بلکې په انفرادي ډول وي، خو دلته هم دنویو اصطلاحاتو او لغاتو پېژندل ضرور دي او هغه څه چې لولي باید پر هغو پوه شي. د چارټ، نقش، ګراف او نور د لوست په برخه کې هم د لوست مهارت مهم او ارزښتمن دی ان دا چې د اخبار د کتنې او مطالعې پر وخت درست او صحیح لوستل خاص ارزښت لري او دا باید د لوړو ټولګیو د درسي فعالیت یو جز شي. ځکه د اخبار لوستل د معلوماتو په زیاتوالي کې رول لري، ددې په لوستلو دوی له تاریخ، جغرافیې، د هېواد له حالاتو او نورو څخه خبریږي، د خپل هېواد له صادراتو او وارداتو څخه خبریږي، له قوانینو او مقرراتو خبریږي، په ملګرو ملتونو کې د خپل هېواد نماینده پېژني، په نورو هېوادونو کې د خپل هېواد سفیران پېژني، که زده کوونکي دا وخت له اخبار لوستلو سره عادت شي، نو خپل دا عادت ټول عمر ساتي په دې توګه له درسي کتابونو سره دوی ته نور درسي ممد یا درسي مرستندوی مواد ډېر ضرور دي.

که په ځینو سیمو کې پښتو ژبو زده کوونکو ته پارسي او پارسي ژبو زده کوونکو ته پښتو ښودل کیږي، نو دا ډېر اسانه ده، ځکه یو خو د دواړو ژبو الفبا عین الفبا ده، بل دا چې په دواړو ژبو کې لیک له ښي خوا ترسره کیږي او زیات شمېر لغات شریک دي، نو د دوهمې ژبې په زده کړه کې باید لاندې مهارتونه په پام کې ونیول شي:

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

په لوستلوکې پرته له دې چې ژبه په نظر کې ونیول شي، دا مهمه ده چې له هغه څخه مفهوم یا مانا واخېستل شي، نو دې موخې لپاره لاندې پړاوونه ضرور دي.

۱.زده کوونکي باید اړ شي چې د لوستلو په ترڅ کې مانا او مفهوم ته ډېر ښه ځیر شي.

۲.دوی باید له لوستلو کېدونکو متنونو څخه د لوست پر وخت د واقعاتو او پېښو تسلسل او پرلپسې والی تعقیب کړي او اصلي مفکوره ذهن ته وسپاري.

۳.مهم تشرېحات یادداشت کړي.

۴.هغه څه چې لوستي یې دي د هغه نتیجه په یو دوه جملو کې خلاصه کړای شي.

۵.د هغو ټولو هدایاتو تعقیب او عملي کول، چې د لیکنې په پای کې راغلي.

۶.ښه به وي لوستل د کره کتنې په بڼه وي یعنې تنقیدي اړخ ولري او مواد یې ارزیابي شي.

۷.لږ څه لوستل او بیا د هغه په اړه سوچ کول.

۸.د خپلو شخصي تجربو په رڼا کې د لوستل شویو مطالبو څېړنه.

۹.د اخبار د لوست پر وخت د حقایقو تغیر او پېژندل.

۱۰.د مهمې مفکورې لپاره د لوست پای ته رسول.

۱۱. د مقایسې او پرتلنې په موخه لوست، مثلاً په عین موضوع کې د دوو بېلا بېلو خبرونو کتل او بیا د هغو پرتله کول.

۱۲.د قرائت شویو موادو په یاد ساتل.

په دې ډول د پورته موادو په تطبیق سره موږ کولای شو، چې په لوړو ټولګیو کې د زده کوونکو مهارت لوړ بوځو او د دوی د معلوماتو سطحه اوچته او مطالعه یې اغېزمنه شي.

## په لوړو ټولګیو کې د لیکنې افادې ښه والی:

د ژبښوونې یوه مهمه موخه داده چې د زده کوونکو د لیکنې ( تحریري) افادې قوه ځواکمنه او ښه شي. لیکل کېدونکي درسونه دغې موخې ته د رسېدو لپاره ډېر ښه وسایل دي. د پوهنې وازرت د لومړنیو زده کړو پروګرام همدا وړاندیز لري چې که زده کوونکي کوم وخت دخپلو لیدنو کتنو پایلې په لیکلي ډول بیانوي، نو دوی باید وهڅول شي تر څو خپل ابداعي او شخصي احساسات څرګند کړای شي او په لیکلي بڼه یې وړاندې کړای شي( ۲ماده، ۸مخ).

ان دا چې زده کوونکو ته وخت ورکړي چې په ګډه توګه په لیکلو کې برخه واخلي،چې په دې ډول زده کوونکي ښه زده کولای شي او رهنمایي یې اسانه کیږي . ښه به وي چې د بېلګې په ډول ښوونکی د ښوونځي له ورځنیو پېښو څخه ګټه واخلي، زده کوونکي د هغو لیکلو ته وهڅوي، له ورځنیو پېښو څخه یادداشت ولیکي او ساده مسایل په لیکلې بڼه راوړي، خو د لوړو ټولګیو لپاره بیا لاندې وړاندیزونه صورت نیولای شي:

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۱-هغه ټول ارونه چې د همدې رسالې په لومړۍ برخه کې وویل شول، باید هغه ټول تر کار لاندې ونیول شي.
۲-ښه به وي د زده کوونکو له خوا ډېر ساده نکلونه ولیکل شي.
۳-د لوست په اړه بېلا بېلې مقالې پخپله د زده کوونکو له خوا ولیکل شي.
۴-ډېر لنډ لنډ ډیالوګونه او لنډ ډارمونه د زده کوونکو له خوا ولیکل شي.
۵-د عرض پاڼو، اسنادو، اعلانونو او نورو لیکل.

زده کوونکي د خپلې مورنۍ ژبې په کارولو کې ډېرو تمرینونو ته اړتیا لري، هغوی باید ولولي، ولیکي، جملې جوړې کړي او خپله پوهه په کار واچوي او ښوونکي دې ورته املا ووایي اودوی وهڅوي چې نوي لغات په جملو کې وکاروي. هغه بډای ګنج چې له پخوا په دې برخه کې موږ ته را پاتې دی، هغه د دیني لارښوونکو، علماوو او پېشوایانو ویناوې او لیکلي اثار، د کلاسیکو شاعرانو دیوانونه، د مورخینو اسناد اونور دي، دغو ټولو خپل افکار په لیکلې بڼه موږ ته را پرې ایښي او موږ ته لوی ثروت دی، د دوی ځینې اشعار ډېر لوړ ارزښت لري، چې د ډېرو اوږدو کلونو په ترڅ کې دخلکو له خوا منل شوي او خلک یې په هر ځای کې وایي او یادوي یې. دا ادبي مضامین تر اوسه الهام بخښونکي دي، خو باید په یاد ولرو چې دغو اکثرو لیکنو پخپله د خلکو له احساساتو منشا او ریښه نیولې، نه دا چې هغوی ته املا ویل شوې وي، نن هم موږ اړ یو زده کوونکي وهڅوو چې خپل احساسات اومفکورې پخپله ولیکي او په دې برخه کې پیاوړي شي، ممکن په لومړیو وختونو کې به د زده کوونکو لیکنې بډایې نه وي، خو ورو ورو به ښې شي. څوک څه پوهیږي چې دنن ورځې د څلورم ټولګي یو زده کوونکی چې خپل احساسات اوس په ضعیفه بڼه لیکي بله ورځ لوی شاعر شي. ان دا چې په لومړنیو ټولګیو کې هم زده کوونکي کولای شي ځینې لنډې کیسې او نکلونه ولیکي، لومړی دومره زیات وده نه کوي، چې کلمات په ښه توګه وکاروي نو ښوونکی دې ورته اصلاح کړي، بیا که دا ټولې سره یو ځای شي، نو زده کوونکي ورته ډېر خوشحالیږي او دا به دوی ته ډېر د ویاړ ځای وي چې د دوی لیکنې ټولې شي، نو دوی به یې څو څو واره لولي. ښوونکي باید زده کوونکي داسې وروزي چې خپل ټول احساسات په کار واچوي، ځکه چې په دې ډول دوی له خپل شاوخوا او چاپېریال څخه ډېر ښه خبریږي او معلومات یې زیاتیږي، کېدای شي ښوونکي له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړي چې د دوی لپاره ډېره ښه بوختیا او مصروفیت کوم دی او له څه شي سره مینه لري؟ یا دا چې ایا هغه ډېر ښکلی څیز چې تر اوسه مو لیدلی څه شی دی؟ یا هغه څه چې په نړۍ کې دوی ته ډېر په زړه پورې دي هغه کوم شی دی؟ یا دا چې کوم شی چې تاسو ته ډېر مهم بریښي د هغو په اړه خبرې وکړي او څه ولیکي اودا هم ولیکي چې ولې دا ورته ډېره مهمه ښکاري. ځینې وخت کېدای شي زده کوونکو ته وویل شي چې دخپلو شاوخوا شیانو او پېښو په اړه څه ولیکي یا کومه پېښه یې چې لیدلې د هغې په اړه څه ووایي، کېدای شي ښوونکي بېلا بېلې په زړه پورې پېښې زده کوونکو ته د مقالو لپاره غوره کړي، د بېلګې په ډول د الوتونکو د مهاجرت په اړه چې منی یوې خواته ځي او پسرلی بېرته راځي یا د اوښانو د کاروان سفر هم یوه په زړه پورې مقاله جوړوي، کېدای شي زده کوونکي پخپله خوښه یوه موضوع غوره کړي او هغه ولیکي یا یې بیان کړي، خو ښوونکي دې ورته عمومي لارښوونې وکړي. زده کوونکي باید په خپل ښوونکي ډاډه وي او په دې هم ډاډ ولري چې ښوونکي یې دوی نه رټي او نه هم د دوی په لیکلو پورې خاندي. دوی باید ډاډه وي چې ښوونکي د دوی لیکنې هڅوي او هغوی ته درناوی کوي او ستایي یې او

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

هڅول يې ښه دي. ان دا چې زده کوونکي دي وهڅول شي چې پخپله خپلې غلطۍ ومومي که ښوونکی څو څو ځايه د دوی په ليکنه کرښه وکاږي او هغه ورته غلطه ثابته کړي، نو ممکن زده کوونکي ناهيلي شي او بيا به هېڅکله څه ونه ليکي، خو که ددې پر ځای ورته وويل شي چې عين موضوع، په څه ډول ډېره ښه ليکل کېدای شي، نو زده کوونکي بيا هم ليکي او بيا يې هم ليکي او ښه يې ليکي.

د لوړو ټولګيو زده کوونکي کولای شي خپلې ديوالي جريدې پخپله جوړې کړي او په هغو کې د خپل ښوونځي اخبار څرګند کړي. پورته ذکر شوې لارې او له دوی سره يو شمېر نور روشونه دي، چې زده کوونکي په ښه ليکلو کې روزي او وده ورکوي.

وينا ( تقريري افاده ):

هغه څه چې د ليکنې ( تحريري افادې ) په برخه کې وويل شول هماغه ټکي د وينا يا د تقريري افادې په اړه هم اغېزمن او ضرور دي او همداسې ارزښت لري، په دې برخه کې چې کومه موخه په پام کې ده هغه داده چې بايد زده کوونکي داسې وروزل شي چې وکولای شي په راتلونکي کې خپل افکار او نظريات ډېر ښه افاده کړای شي او په وينا کې يې څرګند کړای شي. د لومړنيو زده کړو په برخه کې بايد د وينا ښه روزلو لپاره لاندې اهداف تعقيب شي:

۱. ددې ټکي په کلکه په پام کې نيول چې زده کوونکي غواړې خبرې وکړي او خپل افکار څرګند کړي او ښوونکي بايد ددې وخت ورکړي.

۲. د افادې قوه هغه وخت ښه وده مومي چې زده کوونکي په ښوونځي کې له داسې فرصتونو سره مخامخ شي چې په طبيعي ډول خبرو ته اړتيا پېښه شي او دوی ته د وينا ضرورت پيدا شي.

۳. د يوې موضوع ښه افاده په دې پورې تړلې چې په موضوع ښه پوهه موجوده وي.

۴. زده کوونکي هغه وخت ښه افاده کولای شي چې د خپلو سترګو ليدلې پېښې پر شرحې سربېر خپله هم څه څرګندونې پرې زياتې يا ور اضافه کړي.

۵. بايد هڅه وشي چې زده کوونکي هر تعبير او افاده په خپل خپل ځای وکاروي.

۶. کله چې زده کوونکي د يوې موضوع د بيانولو او څرګندولو لپاره ګومارل کېږي، نو دی ته اړ شي چې د مربوطه موضوع په اړه لازم لغات ومومي او هماغه لازم کلمات وکاروي.

۷. ښوونکي بايد دې ټکي ته ځېر شي چې زده کوونکي خپله افاده په مناسبه، صحيح او طبيعي ډول ترسره کړي، چې هغه څه ټول ووايي کوم چې دده مافی الضمير کې دي.

۸. کله چې زده کوونکي د کوم څه په اړه خبرې او وينا کوي، نو هغوی ته دې وخت ورکړل شي چې موضوع منظماً او پرته له ځنډه او د خبرو له پرې کېدو افاده کړي.

د مذاکرې او مباحثې ( خبرو اترو ) په اړه ځينې وړانديزونه:

۱. ښوونکي، زده کوونکي ته وخت ورکوي چې د مباحثې د ټولو شرايطو په پام کې نيولو سره د ښوونځي يا وروځني ژوند په اړه خبرې اترې وکړي.

۲. د علمي سير او خپلو ليدنو کتنو څرنګوالی بيان کړي.

۳. د کورنۍ يا سفر په اړه خبرې کول.

۴. له راډيو څخه يې اورېدلې ويناوې بيان کړي.

Downloaded from: Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**۵.** باید په کلکه زده کوونکي دې تکي ته پام وکړي چې په خپل وار وروسته له اجازې څخه خبرې وکړي او هېڅکله د نورو خبرې اخلال نه کړي.

اخځلیکونه:


**۱.** حکیم ، گل رحمن: د اروا پوهنې ښوونځي د کور د خپرونو ځانګه ۱۳۷۸ المریز کال پېښور.
**۲.** حکمتي ځېړنوال جلات خان د ښوونکی غږ عرفان مجله ( ۱۳۷۰ کال د غبرګولی او چنګاښ دویمه گڼه ۴۰ - ۴۵ مخونه.
**۳.** حمیدي، عبدالشکور : سیستم تعلیم و تربیه در دوره های ابتدایي متوسط و ثانوی، عرفان مجله، پورته یاده شوي گڼه ۱۸-۳۰ مخونه.
**۴.** روهي، محمد صدیق: د زده کړې ځینې عمومي پرنسیپونه عرفان مجله د ۱۳۲۱ کال د تلې اوومه گڼه ۱- ۹ مخونه.
**۵.** ژواک، محمد دین: د پښتو د زده کړې لارې عرفان مجله ۱۳۴۹ د غبرګولی او چنګاښ دریېمه او څلورمه گڼه ۷- ۹ مخونه.
**۶.** کونفورث موریس او نور زبان تفکر و شناخت د فیروز شیروانو ژباړه ۱۳۴۰ المریز کال د کابل چاپ.
**۷.** ورد لیک: اصول تدریس ارت لسان د هاشم ژباړه د ښوونې او روزنې موسسه ۱۳۴۴ کال، کابل ( گستتنري چاپ).
**۸.** د سویدین د کومېټې ببلا بېل درسي کتابونه چې همدا اوس د هېواد په یو شمېر سیمو کې تدریسېږي.
**۹.** درسي لکچر نوټونه ( ۱۳۷۷- ۱۳۷۸ او ۱۳۷۹ ) کلونه کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
**۱۰.** د گڼ شمېر سیمینارونو د مقالو مجموعې چې د ببلا بېلو هغو موسسو له خوا جوړ شوي چې اوس اوس د افغانستان د ښوونې او روزنې په اړه کار کوي او د دغې رسالې لیکوال د ځینو دغو سیمینارونو غړیتوب درلود.
**۱۱.** word laic the Teaching of language U.S.A1978.


Downloaded from: Ketabton.com

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*